د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د مطبوعاتو رياست



➤ د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال د ټاپي پروژې د وروستيـــو پرمختګـــونـــو او راتلونکو فعاليتـــونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر ســـره وليدل

➤ کميســـيون تدارکات ۲۹ پـــروژه را بـــه ارزش حدود ۴.۸ ميليارد افغانی منظور نمود

➤ TWO-DAY VISIT OF MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND TO HERAT: FROM ECONOMIC PROJECTS TO REGIONAL CONNECTIVITY

# آبادي

دري مياشتنی

۲ گـــڼه

اســـد، ۱۴۰۵ ل.ل
پرله‌پسې ۲۹مه ګڼه

"

د افغانستان اسلامي امارت د سيمه ييز او نړيوال فعال مشارکت لپاره اماده دی او په دې برخـــه کې د همکارۍ لپاره واضح تعريفونه لري. نړۍ دې هم د رسمي ســـياسي تعامل جرأت وکړي او له دې فرصت څخه دې ګټه واخلي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام
علی سیدنا محمد وآله وصحبه أجمعین

# ابادي

دري میاشتنی

۲ گـــڼه
اسد - ۱۴۰۵ ل. ل.
پرله‌پسې ۲۹مه گڼه

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار

**مسئول مدیر:** مولوي خالق‌داد تقي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست:** حجت الله قاضي زاده



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



- **د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.**
- **استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.**

# لړلیک


سـرلیـکـنـه ..... ۱

غـونـډې ..... ۲ - ۹

اقتصادي پروژې، لیدنې کتنې او سفرونه ..... ۱۰ - ۳۱

انفوگرافیکونه ..... ۳۲ - ۳۹

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ..... ۴۰ - ۶۲

English Section ..... 1 - 2




# سرلیکنه

کله چې د ۱۴۰۰ لمریزکال د اسد په ۲۴مه د افغانستان اسلامي امارت واک ته ورسېد، نو د افغانستان اقتصاد له یوه بد حالت سره مخ شو. هغه مهال د بهرنیو مرستو لویه برخه ودرېده، بانکي نظام له ستونزو او محدودیتونو سره مخ شو، د افغانستان شتمني کنګل شوه، د پانګونې کچه ټیټه او بې وزلي پراخه شوه. له همدې امله اقتصاد له سخت فشار سره مخ شو. خو اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ په غوره کولو سره هڅه وکړه چې د کورنیو سرچینو پر مټ اقتصادي فعالیتونه پیاوړي کړي. په تېرو پنځو کلونو کې اسلامي امارت پر دې وتوانېد چې افغانی باثباته وساتي، د کرنې، صنعت، سوداګرۍ، روغتیا، ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو، اوبو مدیریت او نورو سکټورونو ترڅنګ خصوصي سکټور ته وده ورکړي. د دې په خوا کې د اسلامي امارت له لوري د سړکونو، کانالونو، برېښنا، اوبو لګولو او نورې زیربنایي پروژې هم پلې شوې یا د پلي کېدو په حال کې دي. له دې پروژو څخه یې یو څو ته اشاره کوو. د قوش تېپې کانال، د کابل- کندهار، سالنګ او ځینو نورو لویو لارو پروژې او د سیمه ییز اتصال په برخه کې له ترکمنستان څخه هرات ته د ټاپي پروژې د چارو پیلېدل نورې هغه پروژې دي چې اسلامي امارت یې د عملي کېدو له پاره ګامونه پورته کړي دي. د اوبو د مدیریت په برخه کې د هېواد په کچه د سترو، متوسطو او کوچنیو بندونو جوړولو یا رغولو ځینې پروژې بشپړې شوې او پر ځینو یې لا هم کار روان دی. د برېښنا په برخه کې د اوبیزې برېښنا ترڅنګ د لمریزې، بادي او ګازو څخه د برېښنا د تولید پروژې پیل شوې او ځینې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. په تېرو پنځو کلونو کې د صنعت سکټور هم پرمختګ کړی دی. په دې موده کې شاوخوا ۶۵۰۰ تولیدي فابریکې فعالې شوې دي. د همدې تولیدي فابریکو پر مټ افغانستان اوسمهال لسګونه قلمه تولیداتو کې ځان بسیاینې ته رسیدلی دی. په یادو فابریکو او روانو پروژو کې په لسګونو زره هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوې او تر یوه بریده یې د بې کارۍ ستونزه هواره کړې ده. په تېرو پنځو کلونو کې په بېلا بېلو برخو کې په میلیاردونو افغانۍ پانګونه جذب شوې ده. دغه راز د انفلاسیون کچه هم کنټرول شوې ده؛ هغه موضوع چې د ګاونډیو هېوادونو په پرتله د انفلاسیون په مدیریت او دوامدارې اقتصادي وده کې د افغانستان د پرمختګ څرګندونه کوي. دغه راز اسلامي امارت په تېرو پنځو کلونو کې پر دې وتوانېد چې له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره خپلې اقتصادي اړیکې پراخې کړي. افغانستان په دې موده کې د کرنې، انرژۍ، ټرانسپورټ، زېربناوو او بنسټیزو برخو کې د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره، چې د سیمې د انرژۍ مرکز بلل کېږي، بېلابېل هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړي دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې خپلې اقتصادي اړیکې له سیمې ورهاخوا نړۍ له نورو هېوادونو سره هم پراخې او غښتلې کړي. اوسمهال د افغانستان اقتصادي یون ورځ تر بلې ګړندی کېږي او که په همدې ډول پرمخ ولاړ شي، نو افغانستان به ډېر ژر په اقتصادي لحاظ د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي. دا د افغانانو هیله ده او دا هیله به د اسلامي امارت په واکمنۍ کې پوره او افغانستان به یو پرمختللی او سوکاله هېواد شي.

د اقتصادي کمېسیون، تدارکاتو کمېسیون او
د پانګونې بین الوزارتي او تخنیکي کمېټو

# غونډې



# جلسه نوبتی کمیسیون اقتصادی برگزار گردید

جلسه نوبتی کمیسـیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی بـرادر آخند، معاون اقتصادی ریاسـت‌الوزراء، به‌تاریخ هفتم سـرطان سـال ۱۴۰۵ خورشـیدی در قصر مرمریـن برگـزار شـد. در این جلسـه، در مـورد رهنمود تطبیق معافیت‌های مالیاتی و گمرکی به‌منظور تشویق و جـذب سـرمایه‌گذاری‌های جدید داخلـی و خارجی بحث صورت گرفت. پس از بحث، به کمیته تعیین‌شده وظیفه سـپرده شـد تا به‌منظور غنی‌تر سـاختن ایـن رهنمود، نشست‌های تخنیکی برگزار نموده و نسخه نهایی آن را در جلسـه آینده کمیسیون اقتصادی ارائه کند. همچنین در این جلسه، طرح ساخت مارکیت تجارتی بر زمین شاروالی در شـهر تالقان، مرکز ولایت تخار، نیز تأیید شد. بر اساس این طرح، سکتور خصوصی با سـرمایه‌گذاری ۱۱۰ میلیون افغانی یک مارکیت تجارتی هفت‌طبقه احداث خواهد کرد که زمینه کار برای ده‌ها تـن از هموطنان را فراهم خواهد سـاخت. در ایـن جلسـه کمیسـیون اقتصـادی، گزارش شماری از موضوعات تعقیبی نیز ارائه شد و در مورد آن‌ها به ادارات مربوطه هدایات لازم داده شـد. این فیصله‌ها، به‌منظـور اتخـاذ تصمیـم نهایـی، بـه دفتـر عالیقـدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله ارسال گردید.

# د اقتصادي کمېسیون ځانګړې غونډه ترسره شوه

د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي مرسـتیال محتـرم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون ځانګړې غونډه د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۲۶مـه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شـوه. په دې غونـډه کـې د اوو زونونـو د والـي صاحبانو لـه لوري پر وړاندې شـوو موضوعاتو بحث وشـو. پـه غونډه کې په هېـواد کـې د بـې‌کارۍ کچې راکمولـو، په هېـواد کې د اقتصادي پروژو د ښـه او پر وخت تطبیـق، د صادراتو او وارداتـو لپاره د اسـانتیاوو رامنځته کولـو، د خامو نفتي موادو د تصفیې، هېواد ته د واردېدونکو درملو د مجازو اقلامو د لیسـت د پراختیا، د صنعتي سـاحو د نقشو د ژر ویـزه کولـو، د امارتـي ځمکو د اجـارې بهیـر د تنظیم او همغـږۍ، د صادرېدونکو غوښـو د بیـو د لوړوالي او د صادراتو پراختیا او یوشـمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث وشـو. د یادو موضوعاتو په اړه لازمې پرېکړې او تصامیم ونیول شول.



# د سوداګرۍ پراختیا لپاره د شېرخان بندر ظرفیت لوړېږي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمریز کال د اسد میاشتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري د شېرخان بندر له لارې له تاجکستان، قرغزستان او چین سره د سوداګرۍ پراختیا په موخه یوشمېر وړاندیزونه وړاندې او له بحث وروسته تایید شول. د دې وړاندیزونو له مخې به د مالیې، کورنیو چارو او نور ښکېل وزارتونه او ادارې په شېرخان بندر کې لازمې زېربناوې ایجاد او شته زیربناوو ته به پراختیا ورکړي. همداراز به له تاجکستان سره په همغږۍ د دغه بندر په کاري ساعتونو کې زیاتوالی راولي، څو زیات شمېر ټرانسپورټي موټرو ته د تګ راتګ زمینه برابره شي. همدا ډول مالیې وزارت ته هدایت وشو، څو په شېرخان بندر کې د ګمرک، ګودامونو، تخلیې او بارګیرۍ خدماتو د وړاندې کولو په موخه د لوجستیکي مرکز د جوړولو په موخه بودیجه ځانګړې او دغه مرکز جوړ کړي. په غونډه کې ټولګټو وزارت ته هم هدایت وشو، څو د کټای دهلیز د فعالولو لپاره، چې د ایکو اقتصادي همکاریو سازمان په واسطه د ایران - افغانستان - تاجکستان او قرغزستان ترمنځ رامنځته شوی، د افغانستان په خاوره کې د اړتیا وړ ریلي تاسیسات جوړ کړي. همدا ډول په غونډه کې پرېکړه وشوه څو اماراتي شرکتونه خپله داغمه اوسپنه ملي پراختیا شرکت ته وسپاري او دغه شرکت یې د پروسس له لارې تولید کېدونکی په معیارونو برابر ګول سیخ په لویو اماراتي پروژو کې وکاروي. په غونډه کې د معیار او کیفیت ادارې له لوري وړاندې شوي ۳۷ معیارونه او ۱۲ د ازمايښت طریقې هم تایید شوې. دغه معیارونه او د ازمايښت طریقې د کرنیزو محصولاتو، خوراکي توکو، درملو، ساختماني موادو، مخابراتو او الکتریک، کیمیا او پلاستیک، روغتیايي سامان‌الاتو او یوشمېر نورو برخو اړوند دي، چې د هېواد اوسني وضعیت او نړیوالو معیارونو په پام کې نیولو سره جوړ شوي دي. د غونډې په پای کې د یوشمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې او په اړه یې اړوندو ادارو ته لازمې لارښوونې وشوې. پورته پرېکړې د نهايي تصمیم نیونې په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله دفتر ته واستول شوې.



## تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۱.۳ میلیارد افغانیو په لګښت ۱۳ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمریز کال د اسد میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم ۳۴ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته د ۱.۳ میلیارد افغانیو په ارزښت ۱۳ پروژې منظورې شوې او په ۱۶ پروژو کې یولړ تعدیلونه منظور شول. همداراز د یوې پروژې قرارداد لغوه او د څلورو پروژو د تدارکاتي پروسو او قیمتونو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو یې هراړخیزه څېړنه ترسره او راپور یې د تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شویو او تعدیل شویو پروژو کې د پکتیا ولایت په جاني‌خیلو ولسوالۍ کې د روغتون جوړول، په ځینو ولایتونو کې د مخابراتي خدمتونو وړاندې کول او د برېښنا د توزیع او انتقال او همداراز د کابل ښار د یوشمېر داخلي سړکونو جوړول او د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظورشوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

## کمیسیون تدارکات به ارزش حدود ۳.۵ میلیارد افغانی ۱۶ پروژه را منظور نمود

جلسه نوبتی کمیسیون تدارکات به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به‌تاریخ سوم سرطان سال ۱۴۰۵ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، ۴۰ پروژه جهت منظوری ارائه گردید. پس از بحث ، ۱۶ پروژه به ارزش مجموعی حدود ۳.۵ میلیارد افغانی منظور و در ۲۰ پروژه یک سلسله تعدیلات لازم مورد تأیید قرار گرفت. همچنان در مورد دو پروژه، به کمیته‌های تعیین‌شده وظیفه سپرده شد تا در مورد قیمت‌های پیشنهادی با شرکت‌های برنده مذاکره نموده و گزارش آن را به رهبری کمیسیون تدارکات ارائه کنند. قرارداد دو پروژه دیگر نیز به دلیل آماده نبودن شرکت‌های برنده برای تطبیق مطابق مفاد قرارداد لغو گردید. این شرکت‌ها به همین دلیل به کمیته محرومیت معرفی شدند. در میان پروژه‌های منظورشده و تعدیل‌شده، مطالعات جیوتخنیکی بند ذخیره‌ای آب قادس خوردک در ولایت بادغیس، مطالعات جیوتخنیکی بند کیله‌گی در ولایت بغلان، تکمیل کارهای باقی‌مانده سردخانه‌ای با ظرفیت ۶۰۰ متریک تُن در ولایت پکتیکا، دیزاین و نصب تأسیسات ذخیره‌سازی نفت با ظرفیت ۱۰ هزار تُن در حوزه نفتی دریای آمو، اعمار شفاخانه عمومی ۵۰ بستر در ولسوالی چهارچینو ولایت ارزگان، ساخت ترمینل موترهای باربری در ترینکوت مرکز ولایت ارزگان، اعمار شماری از سرک‌های داخلی شهر کابل و تکمیل پروژه‌های انتقال و توزیع برق در ولایات مختلف می‌باشد. پروژه‌های یادشده از بودجه امارت اسلامی افغانستان تمویل می‌شوند.





## بهرنیو هېوادونو ته د اینجې د صادراتو او اړونده ستونزو د حل په اړه بحث وشو

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. په دې غونډه کې بهرنیو هېوادونو ته د اینجې طبي بوټي د صادراتو او په دې برخه کې د شته ستونزو د حل په اړه بحث وشو. له بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټه دې د یادې موضوع په اړه هراړخیزه څېړنه وکړي او خپل راپور دې له مشخصو وړاندیزونو سره یوځای اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

اینجه د افغانستان د هغو طبي بوټو له ډلې ده چې په زیاته کچه بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي او ډېری هېوادوال په هېواد کې دننه د دغه بوټي په کښت او راټولولو بوخت دي. همداراز، دې غونډې ته په هېواد کې د رنګه فلزاتو د وضعیت په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شو، چې د تخنیکي کمېټې له لوري د تایید وړ وبلل شو. دغه راپور د نهايي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شو.



## طرح مدیریت خدمات لابراتواری اداره عمومی حفاظت از محیط زیست، قابل تأیید شناخته شد

جلسه نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی، به تاریخ پانزدهم سرطان ۱۴۰۵ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید. در این جلسه، طرح مدیریت خدمات لابراتواری اداره عمومی حفاظت از محیط زیست به‌منظور بررسی ارائه گردید که پس از بحث و ارزیابی همه‌جانبه، قابل تأیید تشخیص داده شد. هدف این طرح، فعال ساختن یک لابراتوار مرکزی، مجهز و معیاری برای آزمایش و ارزیابی کیفیت هوا، خاک، آب و میزان آلودگی صوتی است، که از خدمات این لابراتوار نه تنها ادارات امارتی، بلکه سکتور خصوصی، سازمان‌های بین‌المللی و پوهنتون‌ها نیز استفاده کرده می‌توانند. همچنین در این جلسه، درباره شماری از معیارهای داخلی اداره معیار و کیفیت و موضوع افزایش صادرات قالین‌های افغانی به بازارهای خارجی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

## په جوزجان کې د سـوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمريـز کال د جوزا مياشـتې په ۱۹مه نېټه په مرمرينه مانۍ جوړه شوه. دې غونډې ته د جوزجان ولايت په مرکز شبرغان ښـار کې د ښـاروالۍ پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحـه د بحث لپاره وړاندې شـوه چې د ټولو اړخونو له ارزونې وروسته د تایيد وړ وبلل شـوه. د دې طرحې له مخې به خصوصـي سـکټور د شـاوخوا ۲۳ ميليون افغانيـو پـه پانګونـې سـره درې پوړيـز سـوداګريز مارکېـټ جـوړ کـړي، چـې ۵۴ دوکانونه به ولري. همدارنګه په دې غونډه کـې د کابـل ښـار د اوومـې ناحيـې اړوند د دارالامان سرک ته څېرمه د ښاروالۍ پر ځمکه د استوګنيز او سوداګريز مارکېټ جوړولو پر طرحه هم بحث وشـو. له بحث وروسته ياده طرحـه اړونـدو ادارو تـه راجع شـوه، څو يې تخنيکـي او مالي ارزونه ترسـره او راپور يې په ټاکلي وخت د پانګونـې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## طرح اعمار مارکیت تجارتی در ناحیه اول شـهر کابل قابل تأیید شناخته شد

جلسـه نوبتـی کمیتـه سـرمایه‌گذاری بین‌الوزارتـی به‌تاریـخ نهـم سـرطان ۱۴۰۵ خورشـیدی در قصر مرمرین برگزار گردید. در این جلسه، گزارش ارزیابی طرح اعمار مارکیت تجارتی از سـوی سـکتور خصوصی در زمین وزارت مالیه در ناحیه اول شهر کابل ارائه شد. پس از بحـث همه‌جانبه، این طرح قابل تأیید تشـخیص داده شد. مطابق این طرح، بخش خصوصی با سرمایه‌گذاری حدود ۱۱۸ میلیون افغانی، یک مارکیت تجارتی شـش‌طبقه را با تمامی امکانات مورد نیاز اعمار خواهد کرد. در این جلسه طرح های ساخت مارکیت‌های تجارتـی در ناحیـه پنجم شـهر کابل و شـهر مزارشریـف، مرکز ولایت بلخ، نیـز مورد بحث قـرار گرفت. این طرح ها برای بحث بیشـتر به وزارت‌هـای مربـوط راجـع گردیـد تـا پس از بررسی‌های لازم، گزارش‌های خود را به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی ارائه کنند.

## د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د دوو سوداګریزو مارکېټونو د جوړولو طرحې د تایید وړ وبلل شوې

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمريز کال د سرطان مياشتې په ۱۶مه نېټه په مرمرينه مانۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د کابل ښـار په لومړۍ ناحيـه کې د ماليې وزارت ر ځمکه د دوه سوداګريزو مارکېټونو د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شـوې، چـې له بحـث او هراړخيـزې ارزونې وروسـته دواړه طرحـې د تایيد وړ وبلل شـوې. د يادو طرحو له مخـې به د لومړۍ ناحيې په منډوي ساحه کې ظاهر شاهي مارکېټ د ۱۶۱ ميليون افغانيو په پانګونې سره په اتو پوړونو کې په معيـاري ډول جـوړ شـي، چـې لسـګونو هېوادوالـو ته به دايمـي کاري فرصتونه برابر کـړي. همداراز، بل مارکېټ بـه هم په لومړۍ ناحيه کې د پنځو پوړونو په درلودلو سـره په معيـاري ډول جـوړ شـي، چـې يوشـمېر هېوادوال به پکې پر کار بوخت شي.



## جلسه کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی برگزار گردید

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی به تاریخ ۳۰ سرطان ۱۴۰۵ هجری شمسی در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، طرح تولید برق آفتابی از سوی سکتور خصوصی در شش ولایت کشور (ارزگان، دایکندی، غور، زابل، پکتیکا و فراه) برای بحث ارائه گردید. پس از بحث همه‌جانبه، تصمیم اتخاذ گردید که د افغانستان بریشنا شرکت در مدت یک ماه این طرح را به‌گونه همه‌جانبه و با هماهنگی شرکت مربوطه بررسی نموده و گزارش خود را به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی ارائه کند. به این جلسه، گزارش وزارت فواید عامه درباره طرح پیشنهادی سکتور خصوصی برای توسعه سب‌استیشن نایب‌آباد مزارشریف و ایجاد یک مرکز لوژستیکی نیز ارائه شد. پس از بحث فیصله گردید که این طرح از سوی ادارات ذی‌ربط به‌صورت مقایسوی ارزیابی گردیده و نتیجه آن را با کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی شریک ساخته شود.

## د تراکتورونو او کرنیزو ماشینونو د مونتاژ او تدریجي تولید طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمریز کال د اسد میاشتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د خصوصي سکټور له لوري په هېواد کې د تراکتورونو او کرنیزو ماشینونو د مونتاژ او تدریجي تولید طرحه د بحث لـه پاره وړاندې شوه، چې له ارزونې وروسته د تایید وړ وبلل شوه. دغه راز، په غونډه کې د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان کې د عامې روغتیا وزارت پر ځمکه د کفټریا او هټیو جوړولو طرحه هم له ارزونې وروسته د تایید وړ وبلل شوه.





## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه. غونډې تــه د کندز ولایت په ابدان دښــته کې د ۳۰۰۰ واحده اســتوګنیز ښــارګوټي د جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شــوه. یــاده طرحه د اړتیــا او اقتصادي ارزښــت لرلــو له امله مهمه وبلل شــوه او ټاکل شوې کمېټې ته راجع شوه، څو یې د تولــو تخنیکي او مالــي اړخونو په پام کې نیولو ســره ارزونه ترســره او راپــور یې په ټاکلي وخــت د پانګونــې بین‌الوزارتي کمېټــې تــه وړاندې کــړي. همداراز پــه دې غونډه کــې د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې د سوداګریز او استوګنیز مارکېــټ د جوړولــو پر طرحې هم بحث وشــو. یــاده طرحه د هراړخیزې ارزونې لپاره ټاکل شــوې کمېټې ته راجع شــوه، څو یــې راپور په ټاکلــې نېټــه د پانګونې بین‌الوزارتــي کمېټې ته وړاندې کړي.



## د معیار او کیفیت ادارې ۳۶ معیارونه او ۳۰ د ازمایښت طریقې د تایید وړ وبلل شوې

د اقتصادي کمېســیون تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې جوړه شــوه. غونډې ته د معیــار او کیفیت ادارې له لوري یوشــمېر معیارونه او د ازمایښت طریقې د بحث لپاره وړاندې شوې. له بحث وروســته ۳۶ معیارونه او ۳۰ د ازمایښت طریقې د تایید وړ وبلــل شــوې. دغــه معیارونــه د خوراکــي توکــو، درملو، ســاختماني موادو، کرنیزو محصولاتــو، نفتي توکو، چاپېریال ســاتنې، کان کیندنــې، مخابراتــو او الیکتریک اړونــد دي. په غونــډه کې د کابل، ننګرهــار او کندهار ولایتونــو په صنعتي پارکونو کې د یوشــمېر فابریکو د برېښــنا د ستونزو د حل په اړه هم بحث وشو.

# اقتصادي پروژې

## لیدنې کتنې او سفرونه



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د جبل السراج سیمنټو دویمې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۸مه نېټه د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالی کې د جبل السراج سیمنټو دویمې لویې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال دغه فابریکه د افغانستان د صنعتي ودې، اقتصادي خپلواکۍ او د کورني تولید د پیاوړتیا په برخه کې مهمه وبلله او وېې ویل، د صنعتي بنسټونو پیاوړتیا د بې‌کارۍ په کمولو او د صادراتو په زیاتوالي کې مهم رول لري. محترم ملا صاحب وویل، افغانستان د طبعي زېرمو او بشري قوې په لرلو سره د صنعتي پرمختګ لپاره پراخ امکانات لري او اسلامي امارت هڅه کوي چې هېواد له وارداتي اقتصاد څخه تولیدي او صادراتي اقتصاد ته بدل کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سیمنټ په هېواد کې د زېربنايي پروژو د رغونې او تطبیق لپاره مهم مواد وبلل او زیاته یې کړه، په کور دننه د دې اړینو ساختماني توکو په تولید سره د وارداتو اړتیا کمېږي، له هېواده د اسعارو د وتلو مخنیوی کېږي او په ورته وخت کې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه هم رامنځته کېږي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو پانګوالو وغوښتل چې په افغانستان کې په بېلابېلو سکټورونو کې پانګونه وکړي. د محترم ملا صاحب په خبره، اوسمهال په هېواد کې امنیت ټینګ شوی، د فساد کچه په بې ساري ډول راټیټه شوې، اداري چارې اسانه شوې او د پانګونې لپاره مناسب او ډاډمن چاپېریال رامنځته شوی دی. محترم ملا صاحب د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د طبیعي منابعو پر سم مدیریت او د حکومت ترڅنګ د خصوصي سکټور او ولس پر ګډه هڅو هم ټینګار وکړ. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د جبل السراج سیمنټو د دویمې فابریکې له ټولو مسوولینو، انجنیرانو او کارکوونکو وغوښتل، چې دا پروژه په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سره بشپړه کړي. د یادونې وړ ده چې د جبل السراج سیمنټو دویمه تولیدي فابریکه به په ورځني ډول د پنځه زره ټنه سیمنټو د تولید وړتیا ولري او زرګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه هم برابر کړي. د دې فابریکې د تولید په پیل سره به افغانستان د سیمنټو په برخه کې د خودکفا کېدو پر لور بل مهم ګام واخلي.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ګلبهار سیمنټو د نوې فابریکې د بنسټ ډبره کېښوده

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۱۸مه نېټه په هرات ولایت کې د ګلبهار سیمنټو د نوې تولیدي فابریکې د بنسټ ډبره کېښوده. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال تولیدي فابریکې د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو، د صادراتو زیاتوالي، ملي عوایدو او د هېواد د اقتصادي ودې لپاره مهمې وبللې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سیمنټو د تولید په برخه کې د دې فابریکې جوړېدل د ځان بسیاینې پر لور مهم ګام یاد کړ او ویې ویل، په دې سره به په وارداتي سیمنټو تکیه راکمه، هېوادوالو ته به د کارزمینه برابره او ساختماني چارې به ورسره پراختیا ومومي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، چې افغانستان د طبیعي زېرمو له امله غني هېواد دی او د افغانستان اسلامي امارت د شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې هڅه کوي، څو د هېواد اقتصادي زېربناوې ورغوي. محترم ملا صاحب وویل: «د معاصرو اقتصادي اړیکو له نظره، موږ د خپل هېواد سیاسي او اقتصادي جغرافیې ته د اقتصادي او سوداګریزې دروازې په سترګه ګورو؛ جغرافیوي سرحدونه مو د سوداګریزو اړیکو او مناسباتو په مرکزونو بدل کړي دي؛ د سرحدي خطرونو کچه مو صفر ته راټیټه کړې ده، هېڅ وخت مو هڅه نه ده کړې چې سوداګري له سیاسي مسایلو سره وتړو؛ تل هڅه کوو چې د مناسبې اقتصادي ډیپلوماسۍ له لارې سیمه ییزو او نړیوالو اړیکو ته دوام ورکړو.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د پانګوالو د ملاتړ په موخه مالیاتي تخفیفونه، معافیتونه او نور اړین تسهیلات رامنځته شوي او اسلامي امارت لا ډېره هڅه کوي، چې د مالي او بانکي محدودیتونو اغېزې راکمې او شته ستونزو ته مناسبې حل لارې پیدا کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه: «افغانان واحد ملت دی؛ درد، غم او خوشحالي یې سره شریکې دي؛ دلته هېڅوک له یو او بل بېل نه دي. ولس مو هوښیار دی او له ترخو تجربو یې زده کړه کړې ده. له یوې خوا د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ټولې جغرافیې اوسنی ارام وضعیت ساتلی شي او له بل لوري زموږ ولس هم نور شر اچوونکو کړیو ته په خپله خاوره کې اجازه نه ورکوي.» په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له اړوندو مسوولینو او د فابریکې له تخنیکي ټیم وغوښتل چې د فابریکې د جوړېدو چارې په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سره بشپړې کړي.



# په هرات کې د زون په کچه معياري لابراتوار
# ګټې اخيستنې ته وسپارل شو

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد مياشتې په ۱۸مه نېټه هرات ولايت ته د سفر په ترڅ کې په دغه ولايت کې د لويديځ زون په کچــه د خوراکـي توکـو، درملـو او صحـي محصولاتو د کيفيـت ارزونې معياري لابراتوار ګټې اخيستنې ته وسپاره.

د ګټــې اخيســـتنې مراســـمو کې د رياســت الـــوزراء اداري مرســتيال محتــرم مولــوي عبدالسلام حنفــي او د کابينې ځينو محترمو غــړو هــم حضــور درلــود. د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرسـتيال په خپلـو خبرو کې وويل چې افغانستان د اقتصادي ودې په برخه کې لومړني ګامونه اوچت کړي او اړتيا ده، چې له ملي او نړيوالو معيارونو سره سم محصولات او خدمات وړاندې او د محصولاتو د توريد په برخه کې ټاکل شوي معيارونه په سمه توګه رعايت شــي. محترم ملا صاحــب په دې برخه کې د معياري لابراتوارونو فعاليت مهم ياد کړ، چې له مخــې يــې د محصولاتــو او توليداتو کيفيــت او اعتبــار تضمينيــږي. محتــرم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، له دې وروســته بــه افغانســـتان تــه لــه ګاونډيــو او نــورو هېوادونو د واردېدونکو خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو کيفيت او اعتبار د همدې لابراتوار پر بنسټ ارزول کېږي. په دې سره به د بــې کيفيته، تقلبــي او غيــر معيــاري توکو د وارداتو مخنيوی وشي. محترم ملا عبدالغني بــرادر اخونــد وويل چې دغــه لابراتــوار به د وارداتــي توکو ترڅنــګ د کورنيــو توليداتو د کيفيت د تثبيت او د صادراتو د پراختيا په برخه کې هم فعاليت کوي. په دې ســره به افغاني محصــولات د کيفيــت لــه اړخــه لــه نــورو هېوادونو ســره ســيالي ترســره او په نړيوالو بازارونو کــې به د اعتبار ړ ځــای خپل کړي. د رياســـت‌الوزراء اقتصــادي مرســتيال له ټولو سوداګرو په کلکه وغوښتل چې هېواد ته بې کيفيته توکي وارد نه کړي: «د پخوا غوندې په تينــګار درڅخه غواړم چې د شــخصي ګټې لپاره هېواد تــه بې کيفيته، غيــر معياري او د خلکو روغتيــا ته زيــان رســوونکي توکي مه راوړئ. که چا داســې توکي راوړل پرته له شکه مســتردېږي او پــه هېــڅ صــورت د دې دولت محصولاتو وارداتو ته اجازه نه ورکول کېږي.» محتــرم ملا صاحــب پــه کورنيــو توليدونکو شــرکتونو او فابريکــو هــم غــږ وکــړ چــې د محصولاتو کيفيت ته پوره پاملرنه وکړي.



## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ټاپي پروژې د وروستیو پرمختګونو او راتلونکو فعالیتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر سره ولیدل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، هرات ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې، د ۱۴۰۵کال د اسد میاشتې په ۱۹مه نېټه، د هرات ولایت په تور غونډۍ کې د ټاپي پروژې د وروستیو پرمختګونو او د افغانستان او ترکمنستان د راتلونکو ګډو اقتصادي فعالیتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف سره خبرې وکړې. محترم ملا عبدالغني برادراخوند په هرات ولایت کې د ټاپي پروژې د کاري پرمختګ شریکولو په موخه ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف ته ښه راغلاست ووایه او خوښي یې څرګنده کړه، چې په هرات ولایت کې د ټاپي پروژې کارونه په ښه ډول روان دي او تمه ده چې پاتې چارې به یې په ټاکلي وخت بشپړې شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ترکمنستان له ملي رهبروغوښتل چې دواړه هېوادونه د ګازو د قیمت په اړه هوکړې ته ورسېږي او د قیمت ټاکلو فارمول داسې تعدیل شي، چې د ګازو په قیمت کې د اروپایي بازارونو د شدیدو بدلونونو له اغېزو څخه مخنیوی وشي. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې دغه قرارداد دې د اوږدې مودې لپاره ترسره، شرایط یې اسانه او د قرارداد د بیاکتنې انعطاف منونکی مېکانېزم هم پکې شامل شي. محترم ملا صاحب په هرات ولایت کې د ګازو د وېش او مصرف لپاره د شبکې په جوړولو کې له ترکمن لوري د همکارۍ، د ټاپي پروژې د پاتې موضوعاتو د حل لپاره د ګډ تخنیکي او حقوقي کمېسیون د رامنځته کېدو او په دې پروژه کې لا زیاتو افغانانو ته د کاري فرصتونو د برابرولو په اړه د ګډو هڅو غوښتنه وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې ټاپي د افغانستان او ترکمنستان ستراتیژیکه ملګرتیا لا پیاوړې کړي او اړتیا ده، چې د سوداګرۍ زیاتېدو لپاره دواړه لوري د نفتو د ترانزیټ لپاره د آیکریم بندر د بیا پرانیستلو، په ترکمن باشي بندر کې د افغانستان د ترانزیتي مالونو لپاره د اسانتیاوو برابرولو، د لاجوردو مسیر د بیا فعالولو په برخه کې د شته ستونزو د حل او د هرات - تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ شبکې د بیارغونې او پراختیا لپاره په مشترک ډول کار وکړي. محترم ملا صاحب له ترکمن لوري وغوښتل چې په افغانستان کې د برېښنا او ترانسپورټ لویو اقتصادي پروژو ملاتړ وکړي. ورپسې د ترکمنستان ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف خبرې وکړې. هغه وویل، د ترکمنستان او افغانستان اړیکې د نیک نیت او ښه ګاونډیتوب پر اساس پیاوړې شوې، چې په مختلفو برخو کې یې د ګډو همکاریو فرصتونه رامنځته کړي. هغه زیاته کړه، هرات ولایت ته د ټاپي نللیکې د پایپ غځولو ترڅنګ په هرات ولایت کې د ګازو د توزیعي شبکې جوړولو او همدارازد ټاپ پروژې د عملي چارو د پیل لپاره چمتو دي. د ترکمنستان رهبر وویل، په ټاپ پروژه کې یوشمېر بهرنیو شرکتونو د پانګونې لپاره چمتووالی ښودلی دی. ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف زیاته کړه، عشق اباد چمتو دی چې په ترکمن باشي بندرکې د افغانستان د ترانزیتي او سوداګریزو توکو لپاره ټولې اسانتیاوې برابرې کړي. هغه همدارازد دواړو هېوادونو او سیمې ترمنځ د سوداګرۍ زیاتېدو لپاره د لاجوردو مسیر د فعالولو لپاره پر مشترکو هڅو ټینګار وکړ. نوموړي افغان لوري ته اطمینان ورکړ چې په افغانستان کې د برېښنا او اوسپنې پټلۍ په برخو کې د پیل شوو پروژو کارونه به په ټاکلو نېټو او چټکتیا سره بشپړ کړي. په پای کې دواړو لورو د ټاپي ترڅنګ د ټاپ، نوري فایبر او اوسپنې پټلۍ پروژو د تعقیب او تطبیق په موخه د لوړپوړو مسوولینو په مشرۍ د تخنیکي کمېټې پر جوړولو هوکړه وکړه، څو د یادو پروژو کارونه په ښه ډول پرمخ ولاړ شي.

## د افغان ګاز او ترکمن ګاز شرکتونو ترمنځ د ټاپي پروژې د ګاز پېرلو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ترکمنستان د ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف په حضور کې، د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۱۹مه نېټه، د هرات ولایت په تورغونډۍ کې د افغان ګاز امارتي شرکت او ترکمن ګاز ترکمني شرکت ترمنځ د ټاپي پروژې د ګاز د پېرلو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه. د دې تفاهم‌نامې له مخې به د ګاز قیمت، د ګاز د اړتیا کچې معلومولو او همدارازد ګاز توزیع پروسه مشخصه شي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ښاغلي جمشيد خواجه‌يف سره وليدل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په څلورمه نېټه د ارګ په چهارچنار مانۍ کې د ازبیکستان د لومړي وزیر له مرستیال ښاغلي جمشید خواجه‌یف او مل پلاوي سره ولیدل. د دې لیدنې پرمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، سوداګریزو، پانګونې او ترانزیټي همکاریو د پراختیا په اړه خبرې وشوې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل او تاشکند ترمنځ د اړیکو پراختیا او ثبات، د دواړو هېوادونو د اقتصادي ګټو ترڅنګ د سیمه‌ییز ثبات لپاره هم ګټور وبلل او زیاته یې کړه، د افغانستان اسلامي امارت چمتو دی چې له ټولو شته ظرفیتونو په استفادې دا اړیکې لا پیاوړې او پراخې کړي. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډ عمل پلان پر لا ښه تطبیق ټینګار وکړ او ویې ویل چې دا د دواړو لورو د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول لوبوي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل او تاشکند ترمنځ د سوداګریزو، اقتصادي او ترانزیټي همکاریو د تسهیل او پراختیا لپاره ازبیکستان ته له افغانستان څخه د صادراتي توکو د لېږدوونکو وسایطو د تګ راتګ پر وړاندې د شته خنډونو لرې کول؛ له چین، منځنۍ اسیا او روسیې څخه راتلونکو افغاني ترانزیټي مالونو ته د معافیت ورکول؛ د منځنۍ آسیا، روسیې او چین بازارونو ته د افغانستان د زراعتي محصولاتو، وچو او تازه مېوو، خوراکي توکو، قیمتي معدني موادو د صادراتو په برخه کې د ازبیکستان له لوري د اسانتیاوو رامنځته کول؛ د ترانزیټي زېربناوو د ظرفیت لوړول؛ د ګمرکونو پراختیا؛ افغانانو ته د ویزې ورکړې اسانه کول او د انرژۍ او مشترکو زېربناوو په برخه کې همکاري مهمه وبلله. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، موږ باور لرو چې د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ پراخې همکارۍ نه یوازې دوه اړخیزې اقتصادي اړیکې لوړې کچې ته رسوي؛ بلکې دا به په سیمه کې د نورو ګاونډیو هېوادونو لپاره د ښه ګاونډیتوب یوه غوره بېلګه هم واوسي. ورپسې د ازبیکستان د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي جمشید خواجه‌یف خبرې وکړې. هغه وویل، د ازبیکستان او افغانستان سوداګرۍ د تېر په پرتله د پام وړ زیاته شوې چې اوسنۍ کچه یې ۱.۶ میلیارد ډالرو ته رسېږي. هغه زیاته کړه، چمتو دي چې په افغانستان کې د ازبیک پانګوالو له لوري د پیل شوو پروژو چارې لا چټکې، ستونزې یې حل او هغه نوې پروژې پیل کړي، چې د دواړو هېوادونو د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره مهمې بلل کېږي. هغه همدارنګه وویل، چمتو دي چې په افغانستان کې په بېلابېلو کانونو کې پانګونه وکړي او پر دې سربېره له افغانستان څخه د غوښې او پنبې واردات هم زیات کړي. د هغه په خبره، ازبیک لوری چمتو دی چې د زینک ډبرو د پروسس لپاره په حیرتان کې د ۵۰ میلیون ډالرو په ارزښت فابریکه هم جوړه کړي. ښاغلي خواجه‌یف د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره خبرو کې زیاته کړه، د ترانسپورټ او انرژۍ، کرنې پراختیا، بانکي چارو، سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو د زیاتوالي او همداراز په مختلفو برخو کې به د افغانانو د ظرفیت لوړونې په موخه راغلي ازبیک مسوولین د اسلامي امارت له اړوندو ادارو سره ګډ کار وکړي.



# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال سره وکتل



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۳۰مه نېټه د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال او د اقتصاد وزیر ښاغلي سریک ژومانګارین سره وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یاد هیئت ته ښه راغلاست ووایه او د لوړ رتبه مسوولینو سفرونه یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په برخه کې مهم وبلل. د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال خوښي څرګنده کړه چې په وروستیو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې زیاتوالی راغلی دی. هغه وویل، چمتو دي چې هرات ولایت ته د قزاقي اوړو د صادراتو د ترانسپورټ په برخه کې سبسایډي ورکړي او همداراز به په کابل کې د قزاقستاني درملو د پلور ځانګه او د سوداګرۍ خونه هم پرانیزي. ښاغلي ژومانګارین زیاته کړه، د مالي اسانتیاوو رامنځته کېدو لپاره د افغانستان بانک او غضنفر بانک کې د خپلو حسابونو پرانیستلو، په افغانستان کې د بېلابېلو کانونو، په ځانګړي ډول د کرومایټ او زینک ډبرو د اکتشاف او استخراج، کیمیاوي سرې تولید او د دې ترڅنګ د مزارشریف - هرات– کندهار - سپین بولدک اوسپنې پټلۍ شبکې د جوړولو په برخه کې عملي همکاریو ته چمتو دي. د دې لیدنې پرمهال قزاقي لوري د افغانستان خوراکي توکو د صادراتو زیاتوالي ته لېوالتیا وښوده او ویې ویل، چې د دوه اړخیزې سوداګرۍ د زیاتوالي لپاره به پر افغاني توکو مالیې راټیټې کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له قزاقي لوري مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې په یادو برخو کې به د افغانستان اسلامي امارت اړوند اداري ورسره ګډ کار او همکاري وکړي.





## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو د لار نقشې پر ژر نهایي کېدو ټینګار وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۳۰مه نېټه د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال او د اقتصاد وزیر ښاغلي سریک ژومانګارین په مشرۍ راغلي هیئت سره وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال افغانستان او قزاقستان مهم سوداګریز شریکان وبلل او هیله یې څرګنده کړه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو لار نقشې په تطبیق سره به د سوداګرۍ حجم درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د کرنې، کانونو استخراج، ترانسپورټ، اوسپنې پټلۍ او صنعت برخو کې ګډ کارکول، د کرنیزو محصولاتو د صادراتو زیاتوالی، د بانکي اړیکو پیاوړتیا، د کرنې او مالدارۍ اړوند موافقتنامې، د مالي بازارونو په برخه کې تخنیکي همکاري، د داخلي اسعارو کارول، د ترانسپورټي او لوژستیکي همکاریو پراختیا، د افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان د ګډ مرکز وړاندیز او په خارګوس بندر کې د افغانستان اړوند وارداتي توکو لپاره د لوژستیکي مرکز جوړولو غوښتنه د دې لار نقشې مهم برخې دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، افغانستان د یادې لار نقشې مسوده له خپل لوري نهایي کړې او له قزاقستاني لوري هم غوښتنه کوي، چې د دوی اړوند برخې نهایي او تطبیق ته یې زمینه برابره کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اقتصادي همکاریو د پراختیا لپاره د خصوصي سکتور رول مهم وباله او ویې ویل، د سوداګریزو نندارتونونو، ګډو اقتصادي فورمونو، د سوداګرۍ خونو ترمنځ د همکاریو او د سوداګرو د متقابلو سفرونو ډېروالی کولای شي نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته او د پانګونې کچه لوړه کړي. وروسته ښاغلي سریک ژومانګارین خبرې وکړې او ویې وویل، د قزاقستان لومړی وزیر له افغانستان سره د اړیکو پراختیا او اقتصادي همکاریو زیاتوالي ته ځانګړې توجه لري او نننی سفر یې هم د هغه په هدایت شوی. ښاغلي ژومانګارین زیاته کړه، چې هېواد یې له افغانستان سره د زړه ناروغیو د تشخیص، امنیتي سکتور د پیاوړتیا او همداراز د اوبو مدیریت په برخه کې همکاریو ته چمتو دی. نوموړي وویل، دوی به په کابل پوهنتون کې د اوبو مدیریت لپاره یو علمي مرکز پرانیزي چې افغان متخصصینو ته به روزنه ورکوي. په دې غونډه کې همداراز د ترانسپورټ، صادراتو او وارداتو د زیاتوالي، بانکي اسانتیاوو رامنځته کولو، د اقتصادي همکاریو د لار نقشې د ژر نهایي کېدو او یوشمېر نورو موضوعاتو په اړه هم خبرې وشوې او ټینګار وشو، چې په دې اړه به تخنیکي کمېټې خپلو کارونو ته دوام ورکړي.

## شرکت عـزیزی انرژی تجهیزات تخنیکـی برای تولید ۱۰ هزار میگاوات برق را خریداری نموده

محترم ملا عبدالغنـی برادر آخند، معـاون اقتصادی ریاسـت‌الوزراء، به‌تاریـخ ۳۰ سـرطان ۱۴۰۵ در دفتـر کار خـود بـا میرویـس عزیزی، سرمایه‌گذار و تاجر ملی کشور و تیم تخنیکی وی دیدار نمود. میرویس عزیزی، رئیـس عمومی شـرکت سـرمایه‌گذاری عزیزی انرژی، گفت که تمامـی تجهیزات تخنیکی مورد نیـاز برای تولید ۱۰ هـزار میگاوات برق خریداری شـده و کار انتقال آن به افغانستان به‌زودی آغاز خواهد کرد. وی افزود کـه در آینده نزدیک، کار سـاخت یک شـفاخانه بزرگ تداوی بیماری‌های سرطانی نیز در کشور آغاز می‌شود. سپس، کمیته تخنیکی متشـکل از نمایندگان ادارات امارتی ذیربط و شـرکت سـرمایه‌گذاری عزیزی انرژی که تحت رهبری معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء تشکیل شده است، گزارش خود را ارائه نمود. بر اساس این گزارش، مطالعات امکان‌سـنجی پروژه‌های تولید ۱۰۰ میگاوات برق آفتابی در ساحه نغلو ولایت کابل، ۱۰۰ میگاوات برق آفتابی در ساحه باریک‌آب ولایت پروان و ۱۳۱ میـگاوات برق آفتابـی در ولایت غزنی تکمیل شـده و قراردادهای خرید برق این پروژه‌ها نیز به امضاء رسیده است. این کمیته در گزارش خود گفت که کارهای عملی این پروژه‌ها در سـاحات مربوطه آغاز شده است. علاوه بر این، بحث‌های تخنیکی درباره پروژه تولید ۱۶۵ میگاوات برق از زغال‌سـنگ در ولایـت تخـار، پروژه تولید ۳۵۰ میـگاوات برق از زغال‌سنگ در ولایت بغلان، سـاخت سب‌استیشن‌های نغلو و غزنی و پروژه تمدید لین انتقال برق از ساحه تره‌خیل ولایت کابل تا صنایع سبز جریان دارد و قرار اسـت به‌زودی نهایی شـود. این کمیته برای سرعت بخشـیدن کار پروژه‌هـا، پیشـنهادهای خـود را نیز ارائه کـرد. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از دستاوردهای این کمیته قدردانی نمود و به ادارات امارتـی مربوطـه برای سـرعت بخشـیدن هرچه بیشـتر امور، هدایات لازم صادر نمود. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند توصیه نمود که کارهای باقی‌مانده در برخی بخش‌ها ظرف دو هفته تکمیل و گزارش آن به مقام معاونیت اقتصادی ارائه شـود. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به شرکت سرمایه‌گذاری عزیزی انرژی اطمینان همکاری کامل داد و از مسؤلان این شرکت خواست تا کارهای خود را با کیفیت درست و در زمان تعیین‌شده به پایان برسانند.



# د شـبرغـان - الـوان دښتـې د ۵۰۰ کیلوولټ لیـن غځولـو پروژې چارې بشپړېدو ته نـږدې شـوې

د ریاسـتالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشـتې په ۲۷مه نېټه په خپل کاري دفتـرکې د افغان انویسـټ خصوصي شـرکت لـه مسـوولینو سـره وکتـل. د یاد شرکت مسـوولینو وویل، د شبرغان – الوان دښتې د ۵۰۰ کیلوولټ د برېښنا لین غځولو او د الوان دښـتې د سب‌سټېشـن د پراختیا چارې بشـپړېدو ته نږدې شـوي دي، چې په راتلونکـو څلـورو میاشـتو کـې بـه ګټـې اخیسـتنې ته وسپارل شـي. هغوی همداراز زیاتـه کړه، د غورولایت د تولک ولسـوالۍ د سربو او جستو کان د دویم بلاک په اکتشافي چارو کې هم پرمختګ شوی او ژمن دي، چې پاتـې چـارې بـه یـې د افغـان او بهرنیـو متخصصینو پرمـټ په ټاکلي وخت بشـپړې کړي. د ریاسـتالوزراء اقتصادي مرستیال د دغه شـرکت لـه لوري ترسـره شـوې هڅـې وسـتایلې او ټینګار یې وکړ، چې د یاد کان د اکتشاف ترڅنګ د سل سلنه پروسس لپاره د فابریکـې پرجوړولو او د هغـه لپاره د اړتیا وړ برېښنا برابرولو چارې هم پیل کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرسـتیال یاد شـرکت ته له خپل لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنر سره ولیدل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۷مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنر ښاغلي برهام صالح سره ولیدل. د دې لیدنې پرمهال د افغان کډوالو پر وضعیت، له راستنېدونکو کډوالو سره پر بشري او پراختیایي مرستو او له عامو افغانانو سره د راتلونکو همکاریو په اړه خبرې وشوې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ملګرو ملتونو او نړیوالو بنسټونو مننه وکړه، چې له افغان کډوالو سره یې بشري مرستې کړې دي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټینګار وکړ چې ملګري ملتونه او نړیوال بنسټونه دې خپلې مرستې پراختیایي برخو ته ځانګړې کړي، څو راستنېدونکو کډوالو او په کور دننه بې ځایه شویو افغانانو ته د سرپناه، ښوونځیو، برېښنا، پاکو اوبو، کارموندنې او نورو برخو کې اسانتیاوې رامنځته شي. ښاغلي برهام صالح په پراختیایي برخو کې د افغانستان اسلامي امارت د ترسره شویو هڅو ستاینه وکړه او ډاډ یې څرګند کړ، چې دوی به پوره هڅه وکړي څو د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې لا زیاتې مرستې راجلب او افغانانو ته د ژوند اسانتیاوې رامنځته کړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کابل کې د قطر له سفیر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د چنګاښ میاشتې په لومړۍ نېټه په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د قطر دولت له سفیر ښاغلي مردف القاشوطي سره وکتل. د دې لیدنې پر مهال په افغانستان کې د قطر دولت پر پانګونې، د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي همکاریو په پراختیا او یو شمېر سیمه‌ییزو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ د نندارتون پرانیسته وکړه

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په څلورمه نېټه د افغانستان نړیوال ننداتون مرکزکې په هېواد کې د مخابراتو او ټیکنالوژۍ په برخه کې د لومړني جوړ شوي نندارتون پرانیسته وکړه. د ریاستالوزرءا اقتصادي مرستیال په لومړي سرکې په هېواد کې د وروستیو سیلابونو له امله د هېواد په مختلفو سیمو، په ځانګړي ډول نورستان ولایت کې زیانمنو شویو هېوادوالو ته تسلیت ووایه، شهیدانو ته یې جنتالفردوس او ټپیانو ته یې د عاجلې روغتیا دعا وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې په اوسني عصر کې د ټیکنالوژۍ پرمختګ او د اړیکو د ټینګولو وسایل د هېوادونو د مهمو لومړیتوبونو په سرکې قرار لري او دې پرمختګ د نړۍ د سیالۍ ډګر ګرم ساتلی دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د عصر د غوښتنې مطابق د ټیکنالوژۍ او مخابراتو په برخه کې پرمختګ کول زموږ ستر مسوولیت دی او د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې په تدریجي توګه له خپلو موجوده امکاناتو څخه په ګټه اخیستنې ځان په دې برخه کې له سیمې او نړۍ سره سیال کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې برخه کې د سیمې د اتصالي نقطې په توګه د هېواد جغرافیوي موقیعت مهم وباله او ویې ویل، «افغانستان کولی شي جنوبي اسیا له منځنۍ اسیا سره د ډېټا د ترانزیټ په برخه کې وصل کړي.»

محترم ملا صاحب وویل، د اسلامي امارت په بیاځلې حاکمیت سره افغانستان د مخابراتو او ټیکنالوژۍ په برخه کې پرمختګونه کړي، ډېرې محرومې سیمې تر مخابراتي پوښښ لاندې راغلې، په ډیجیټلي حکومتولی کې مهم پرمختګونه شوي، چې ښه بېلګه یې څه موده وړاندې د امارتي ادارو لپاره د رسمي اسنادو جوړ شوي سیستم تطبیق دی. د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د ټیکنالوژۍ د فرهنګ د ترویج او بهبود په برخه کې د دې نندارتون جوړېدل مهم وبلل او زیاته یې کړه چې د ټیکنالوژۍ په پرمختګ سره په کارونو کې شفافیت، د عوایدو سم مدیریت، د وخت سپما، د پروسو اسانتیا او په چارو کې د خطا کمول تضمینوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، له نړۍ سره د سیالۍ او مساوي پرمختګ لپاره اړینه ده چې د ژوند په هره برخه کې د پرمختللي ټیکنالوژۍ له صنعت څخه استفاده وکړو او زیاته یې کړه «دا مسوولیت هم شرعا او هم اخلاقا موږ او تاسې ته راجع دی چې ځانونه له نړۍ سره سیالان کړو.» د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دغه نندارتون د افغان ځوانانو د استعدادونو د ودې، د دوی له نوښتونو څخه د ملاتړ او د تخنیکي پروګرامونو له لارې د هېواد د مبتکر نسل لپاره اړین وباله او هیله یې څرګنده کړه، چې د داسې نندارتونونو په اساس به د اسلامي امارت، خصوصي سکتور، علمي بنسټونو او نوښتګرو ځوانانو ترمنځ همکاري زیاته او ګران هېواد به د ټیکنالوژۍ او ډیجیټلي پرمختګ په ډګرکې نور هم مخکې ولاړ شي. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هېواد کې د بې‌کارۍ ستونزو دحل په برخه کې هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په تول توان هڅه کوي، چې په هېواد کې دننه هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي. محترم ملا صاحب وویل، په همدې موخه اسلامي امارت په مختلفو سکتورونو کې لویې پراختیایي پروژې پیل کړې دي، سوداګرۍ وده کړې او د خصوصي سکتور د فعالیتونو د اسانتیا لپاره مالیاتي تخفیفونه ورکړل شوي، چې ډېرو هېوادوالو ته پکې د کار زمینه برابره شوي، خو په خبره یې، د بې‌کارۍ کچې کمولو په موخه لا نورو هڅو ته اړتیا ده.



## د سوداګرۍ او پانګونې او د صنعت او معدن خونو ترمنځ د ګډ سهامي شرکت جوړېدو تفاهمنامه لاسلیک شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۷مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د سوداګرۍ او پانګونې او د صنعت او معدن خونو ترمنځ د ګډ سهامي شرکت جوړېدو تفاهمنامه لاسلیک شوه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې اړه جوړې شوې غونډې ته په خپلې وینا کې د دغه سهامي شرکت جوړېدل په هېواد کې د لویو اقتصادي او زېربنایي پروژو د عملي کېدو او د پانګونې د پراختیا په برخه کې مهم وبلل او ویې ویل، چې دا د هېواد د اقتصادي راتلونکي لپاره د یوه منظم او عملي مسیر د رامنځته کولو هڅه ده. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، چې د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت ترڅنګ خصوصي سکتور هم مهم رول لري او کولای شي د تولید په زیاتوالي، د کارموندنې په رامنځته کولو، د صادراتو په پراختیا او د لویو پروژو په تمویل کې اساسي ونډه واخلي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د دغه شرکت پر مټ به د ګڼو سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو پانګې په یوه منظم، قانوني او شفاف چوکاټ کې سره راټولې او د هغو له مجموعي ظرفیت څخه به د لویو پروژو د تمویل لپاره استفاده وشي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت په هېواد کې د پانګوالو او صنعتکارانو لپاره خوندي چاپېریال رامنځته کړی او په همدې موخه یې د قانوني، اداري او اقتصادي اسانتیاوو په برابرولو کې لازم اقدامات کړي، د پانګونې پروراندې یې خنډونه له منځه وړي، د اداري پروسو په ساده کولو کار روان دی او د پانګوالو لپاره په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې د جلب او جذب په برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته شوې دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو وغوښتل چې د افغانستان په اقتصادي ابادۍ کې ونډه واخلي، خپل ظرفیتونه سره یو ځای او د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره په ګډه پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب د امارتي ادارو له مسوولینو هم وغوښتل چې د خصوصي سکټور د پیاوړتیا لپاره پوره همکاري وکړي. د غونډې په پای کې د سوداګرۍ او پانګونې او د صنعت او معدن خونو ترمنځ د ګډ سهامي شرکت د جوړېدو تفاهمنامه لاسلیک شوه، چې په مختلفو سکټورونو کې به د زېربنایي پروژو د تطبیق په برخه کې د پانګونې نوي فرصتونه برابر کړي.





# ایـران ته د ریاست الـوزراء د اقتصادي مرستیال سفر

د ریاســـتالوزراء اقتصـادي مرسـتیال محتـرم ملا عبدالغني برادر اخونـد د ۱۴۰۵ لمریز کال د چنګاښ میاشتې په ۱۱مه نېټه د ایران د مخکیني مذهبي مشر ایـت‌الله علي‌خامنه‌یـي د جنـازې پـه مراسـمو کې د ګـډون په موخه ایران ته ولاړ. لـه محترم ملا صاحب سـره په دغه سفر کې د افغانسـتان اسلامي امارت د بهرنیـو چارو وزیـر مولـوي امیرخان متقي هـم ملتیا کوله. د دې سفر په لړ کې د افغانستان اسلامي امارت د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محتـرم ملا عبدالغني بـرادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د چنګاښ میاشـتې په ۱۲مه نیټه د ایران له ولسمشـر ښـاغلي مسعود پزشکیان سـره ولیدل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ښاغلي پزشکیان سره لیدنه کې د ایران حکومت او ولس سره د ایران د ستر مذهبي مشر ایت الله علي خامنه یي د شهادت د تسلیت ویلو ترڅنګ پر دوو اړخیزو اړیکـو خبـرې وکړې. د ریاسـت الـوزراء اقتصادي مرسـتیال د افغانستان او ایران ترمنځ ګڼو برخو کې د مشترکاتو یادونه وکړه او زیاته یې کړه چې دواړه هېوادونـه څرګندې ګډې ګټـې لري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، چې پر ایران د امریکا او اسراییلو د یرغل په اړه د افغانستان اسلامي امارت دریـځ روښـانه او ثابـت و او دغه برید یـې نامشروع ګڼلی او غندلی و. ښاغلي پزشکیان په خپلو خبرو کې د دواړو ولسونو پر نږدې او دوستانه اړیکو ټینګار وکړ او زیاتـه یې کړه چـې دواړه هېوادونه دې ټول شـته فرصتونـه د دواړو ولسـونو په ګټه وکاروي. ښـاغلي پزشـکیان افغانسـتان سـره د اړیکو پراختیـا د خپل حکومـت لپاره د ځانګړي لومړیتـوب لرونکي وبلل او ټینـګاریـې وکـړ چـې دواړه حکومتونه دې لـه ټولو ظرفیتونو څخه ګټه پورته کړي.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند نورستان ولایت ته سفر وکړ

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریزکال د اسد میاشتې په ۱۲مه نېټه نورستان ولایت ته سفروکړ او په دغه ولایت کې یې د وروستیو سیلابونو له امله له زیانمن شوو هېوادوالو سره خواخوږي څرګنده کړه. محترم ملا صاحب شهیدانو ته د جنتالفردوس او ټپیانو ته د عاجلې روغتیا دعا وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په لومړیو ورځو کې د افغانستان اسلامي امارت د اړوندو ادارو مسوولینو د پېښې ځای ته ځانونه رسولي وو او د هېوادوالو د ژغورنې لپاره يې له ټولو امکاناتو استفاده کړې وه. د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال زیانمن شوو هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت به له ټولو شته امکاناتو څخه په استفادې د دوی لاسنیوی وکړي او زیاته یې کړه چې د اسلامي امارت مسوولین د ولس خادمان دي او د ولس ستونزو ته په وخت رسېدنه کوي. د دې سفر پرمهال د خصوصي سکټور استازو هم حضور درلود چې له زیانمن شوو هېوادوالو سره یې نغدي مرستې وکړې. د نورستان ولایت علماوو، سپین ږیرو او زیانمن شوو هېوادوالو د زړه له تله له اسلامي امارت مننه وکړه، چې دوی یې په سخت حالت کې هېر نه کړل او د غمرازۍ په موخه یې امارتي مسوولینو سیمې ته سفرونه وکړل. د سیمې خلکو اسلامي امارت د ځان او ولس نظام وباله او له نظام څخه یې خپل ملاتړ څرګند کړ. هغوی خپلې غوښتنې او ستونزې شریکې کړې او محترم ملا صاحب یې د حل ډاډ ورکړ.



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند:

# شریر او ورانکاري عناصر دې د نورو په لمسون له بې ځایه تخریب څخه لاس واخلي

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۸مه نېټه په دفاع وزارت کې له انګریزي ښکېلاک څخه د هېواد د ازادۍ اخیستو د ۱۰۷مې کلیزې په مناسبت جوړه شوې غونډه کې ګډون او وینا وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند افغان ویاړمن او مجاهد ولس ته د دې ازادۍ مبارکي وویله، د خپلواکۍ د بېرته اخیستو په لاره کې یې د شهیدانو روحونو ته دعا وکړه او ویې ویل، چې خپلواک ژوند د افغانانو د ارزښتونو په سرکې قرار لري او هېڅکله هم د اسارت او غلامۍ ژوند نه قبلوي. محترم ملا صاحب د خپلواکۍ ساتلو ارزښت ته په کتو وویل: «د خپلواکۍ ورځو د نمانځنې څخه باید زمونږ موخه یوازې د هغه وخت د سرښندو او اتلانو یادونه نه وي، بلکې تر ټولو مهم پیغام مو باید دا هم وي چې ترلاسه شوې خپلواکي وساتو او په بشپړه معنا د هر ډول سیاسي، اقتصادي او نظامي استعمار د بیا تکرار مخه ونیسو. دا کار هغه وخت شونی دی چې ټول افغانان د لوړو دیني او ملي ارزښتونو د ساتنې لپاره یو موټی شو، د نورو په اشارو وطن وران نه کړو، د عصر د غوښتنو مطابق عصري زده کړې وکړو، د ټکنالوژۍ او خپلو عصري وسایلو څښتنان شو.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې په هېواد کې د شل کلن امریکایي اشغال په ختمېدو سره یوځل بیا دا ملت د خپل برخلیک په ټاکلو او ټولو چارو کې خپلواک شو. هغه زیاته کړه: «اوس مو نه ملت اسیر دی، نه مو سیاسي او اقتصادي برخلیک بل څوک ټاکي، نه مو ارضي تمامیت ته خطر متوجه دی، نه مو مال او ناموس ته په بده سترګه کتل کېږي او نه د بل چا په اشارو پرېکړې کوو. لله الحمد د خپلواکۍ برکت دی چې خپل لوی او اساسي ارزښتونه مو په بشپړه توګه خوندي دي.»



د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو ورانکارو او شریرو عناصرو هم غږ وکړ، چې د نورو په لمسون له بې ځایه تخریب څخه لاس واخلي، کورنیو جګړو ته لمن ونه وهي او افغانان ارام ژوند ته پرېږدي. هغه د افغانستان اسلامي امارت له ټولو امنیتي مسوولینو مننه وکړه، چې د هېواد د امنیت ساتلو لپاره شپه او ورځ هڅه کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همداراز په ټولو هغو ځواکونو هم غږ وکړ چې د افغانستان لپاره بد نیتونه لري. محترم ملا صاحب وویل، دوی باید د افغانستان له تاریخ زده کړه وکړي، د لاسوهنې او تقابل پر ځای د اصولو په چوکاټ کې د هر اړخیز سیاسي او اقتصادي تعامل ته لار هواره کړي، چې دا کار نه یوازې زمونږ؛ بلکې د سیمې او نړۍ هیوادونو د امنیت او اقتصادي ثبات لپاره هم مهم ګڼل کېږي. هغه وویل چې د افغانستان اسلامي امارت د سیمه ییز او نړیوال فعال مشارکت لپاره اماده دی او په دې برخه کې د همکارۍ لپاره واضح تعریفونه لري. نړۍ دې هم د رسمي سیاسي تعامل جرأت وکړي او له دې فرصت څخه دې ګټه واخلي. محترم ملا صاحب د هېواد اقتصادي وضعیت ته په اشارې سره وویل، چې په هېواد کې لویې اقتصادي پروژې روانې دي او په دې برخه کې ډېرې لاسته راوړنې لري. هغه زیاته کړه چې اسلامي امارت په مسلسله توګه هڅه کوي چې هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي. هغه په دې برخه کې له اقتصادي پروژو څخه د هېوادوالو ملاتړ مهم وباله. د یادونې وړ ده چې د افغانستان د خپلواکۍ اخیستو د ۱۰۷مې کلیزې د لمانځنې په مناسبت د جوړو شوو مراسمو په پای کې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازادۍ پر څلي د ګلونو ګېډۍ هم کېښوده.

# افغانستان د پانګونې غوره فرصتونه لري

افغانستان د ستراتېژیک جغرافیوي موقعیت، پریمانه طبیعي سرچینو او د پانګونې د بالقوه امکاناتو په لرلو سره په بېلابېلو برخو کې د پانګونې لپاره غوره او مناسب فرصتونه لري. له دې سکټورونو یو هم د کرنې او مالدارۍ سکټور دی. افغانستان یو کرنیز هېواد دی، چې نږدې ۷۵ سلنه وګړي یې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. په دې توګه د کرنې سکتور په کارموندنه کې تر ټولو زیاته برخه لري. د افغانستان د مجموعي ځمکې نږدې ۱۲ سلنه د کرنې وړ ده، چې اوس مهال یې یوازې ۶ سلنه تر کرنې لاندې ده. د هېواد ۳۳،۷ سلنه ناخالص داخلي تولید د کرنې له سکتور څخه لاسته راځي، چې محصولات یې په نړیواله سطحه د ځانګړي شهرت لرونکي دي. په اوسنیو شرایطو کې د کرنې سکتور میکانیزه کول کولی شي، چې د هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې کلیدي رول ولوبوي او د هېواد د صنایعو لپاره خام مواد برابر کړي. په یاد سکتور کې د پانګونې لپاره عمده فرصتونه عبارت دي له:

- پریمانه اوبو، کرنیزې ځمکې او مناسب اقلیم ته په پام د مختلفو نباتاتو، په ځانګړې توګه د صنعتي او طبي بوټو د کرنې او روزنې په برخه کې پانګونه؛
- د هېواد له اړتیاوو سره سم د کرنې او مالدارۍ د تنوع او څېړنې په برخه کې پانګونه؛
- د کرنې اړونده زېربناوو د پراختیا او د کرنې میکانیزه کولو په برخه کې پانګونه؛
- د کرنیزونو او حیواني فارمونو او شنو خونو د جوړولو په برخه کې پانګونه؛
- د حیواني او کرنیزو محصولاتو د ساتنې په موخه د معیاري ځایونو او سړو خونو جوړولو په برخه کې پانګونه؛
- د حیواني او کرنیزو محصولاتو د پروسس او بسته بندۍ په برخه کې پانګونه؛
- د معیاري کرنیزو او حیواني لابراتوارونو او درمل جوړولو په برخه کې پانګونه؛
- د نباتاتو او حیواناتو د روغتیا ساتنې او افاتو څخه د مخنیوي په موخه د معیاري کلینیکونو جوړولو په برخه کې پانګونه؛
- او د اصلاح شویو کرنیزو تخمونو او کیمیاوي کودونو د تولید په برخه کې پانګونه.

ټول پانګوال کولی شي په یادو برخو کې د پانګونې په موخه خپلې طرحې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.





## انرژۍ سکتور کې د پانګونې فرصتونه

افغانســتان د ســتراتيژيک جغرافيوي موقعيت، پرېمانه طبيعي ســرچينو او د پانګونې د بالقــوه امکاناتو په لرلو سره په بېلابېلو برخو کې د پانګونې لپاره غوره او مناسب فرصتونه لري. له دې سکتورونو يو هم د انرژۍ سکټور دی.

پــه نننــۍ نړۍ کــې د پايــدارې پراختيــا او د اقتصــادي او اجتماعــي رفاه د تامين په موخــه انرژي له حياتي او ډېرو مهمــو عواملو څخه ګڼل کېږي. ارزانه، پايداره او د ډاډ وړ انرژۍ ته لاس رســی پــر اقتصــادي وده او پراختيا، ټولنيزه رفاه او چاپيريال باندې د پام وړ اغېزې لري.

اوسمهال څه کم ۴۰ سلنه هېوادوال نسبتاً پايدارې انرژۍ تــه لاس رســی لري. دا پــه داســې حــال کــې ده، چــې افغانســتان د ســيمې پــه کچــه د انرژۍ د توليــد زياتــې سرچينې هم لري. د برېښــنا انرژۍ د زېربناوو بيا رغونه او تاســيس د اقتصــادي ودې اساســي عامــل دی او د افغانســتان اسلامي امارت لــه مهمــو لومړيتوبنو ګڼل کېږي، چې په دې برخه کې عمده فرصتونه عبارت دي له:

**۱- د محلي اړتياوو ســره ســم په ټول هېواد کې د برېښنا شبکې د پراختيا په برخه کې پانګونه؛**

**۲- د اوبيزې، لمريزې، بادي، بايومــاس او حرارتي انرژۍ د توليد او پراختيا په برخه کې پانګونه؛**

**۳- د انرژۍ پــه ســکتورکې د نــوې ټکنالــوژۍ د ترويج او پراختيا په برخه کې پانګونه؛**

**۴- او د انرژۍ ســکتور د زيربنــاوو او شــبکې د رغونــې او پراختيا په برخه کې پانګونه.**

ټول پانګوال کولای شــي په يادو برخو کې د پانګونې په موخه خپلې طرحې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت تر چتر لاندې د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې ۱۱۶ کیلومتره پایپ غځول شوی

د افغانستان اسلامي امارت د هېواد له جغرافیوي موقعیت څخه د استفادې او سیمه‌ییز اتصال د پیاوړتیا په موخه په افغانستان کې د هغو ټولو سیمه‌ییزو پروژو د تطبیق لپاره زمینه برابره کړې، چې له مخې یې د افغانستان اقتصاد وده کوي او سیمه ییزه همکاري ورسره پراختیا مومي. له دې پروژو یوه هم د تاپي ګازو نللیکه ده، چې د ۱۴۰۵ کال تر اسد میاشتې پورې یې د افغانستان په خاوره کې د ۱۱۶ کیلومتره په اوږدوالي پایپ غځول او ویلډینګ شوی او ۱۳۵ کیلومتره نور مسیر د پایپ غځونې لپاره چمتو شوی دی. تر اوسه ۳۸ کیلومتره پایپ لاین تر ځمکې لاندې خښ شوی هم دی. د پلان له مخې ټاکل شوې چې د پایپ غځونې کارونه به د روان ۲۰۲۶ میلادي کال تر پایه بشپړ شي. په نږدې وخت کې به په هرات ښار کې د ګازو د ویش شبکې د سروې او ډیزاین چارې هم پیل شي. هرات ښار ته د ګازو په رسېدو سره به دغه ولایت کې صنعتي فعالیتونه لا ډېره پراختیا ومومي. په هرات کې به سلګونه صنعتي او تولیدي فابریکې فعالې او سلګونو زرو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شي. له دې ګازو به د برېښنا د تولید په برخه کې هم استفاده وشي، چې په دې سره به صنعت د پام وړ پرمختګ وکړي او په وارداتي برېښنا به د افغانستان تکیه راکمه او ګڼو هېوادوالو ته به برېښنا ورسېږي. د یادونې وړ ده چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې له عملي چارو لیدنه کړې او وخت پر وخت یې له ترکمن لوري سره د کارونو د پر وخت ترسره کېدو په اړه خبرې کړې او هغوی ته یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړی دی.



# هېواد کې د کانونو او طبیعي سرچینو په برخه کې پانګونې فرصتونه

افغانستان د ستراتېژیک جغرافیوي موقعیت، پریمانه طبیعي سرچینو او د پانګونې د بالقوه امکاناتو په لرلو سره په بېلابېلو برخو کې د پانګونې لپاره غوره او مناسب فرصتونه لري. له دې سکتورونو یو هم د کانونو او طبیعي زېرمو سکتور دی. کانونه او طبیعي زېرمې د هېوادونو اقتصادي ودې او پراختیا کې اغېزناک رول لري. افغانستان له زیاتو او متنوع کاني زېرمو برخمن دی. دغه زېرمې د لوړ اقتصادي بالقوه ظرفیت درلودونکې دي او د پانګونې لپاره پراخ مناسب فرصتونه برابروي، چې د اصولي او پایېدونکې ګټې اخیستنې په صورت کې اقتصادي ودې او پراختیا ته رسېدلی شي. په دې برخه کې د پانګونې عمده فرصتونه عبارت دي له:

- د کاني زېرمو د دقیق نوعیت او ظرفیت معلومولو په موخه د تفحص او اکتشاف په برخه کې پانګونه؛
- د پایېدونکې ګټې اخیستنې اصل په پام کې نیولو سره د کاني زېرمو د استخراج په برخه کې پانګونه؛
- د کاني موادو د تصفیې، پروسس او صادراتو په برخه کې پانګونه؛
- د کانونو په سکتور کې د نوې ټکنالوژۍ د ترویج او پراختیا په برخه کې پانګونه؛
- او د کاني سکتور زېربناوو د رغونې او پراختیا په برخه کې پانګونه.

ټول پانګوال کولی شي په یادو برخو کې د پانګونې په موخه خپلې طرحې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.





# د الشفاء روغتون د بیارغونې کارونه ۶۰ سلنه بشپړ شوي

د الشفاء روغتون د نویو برخو جوړولو او ځینو برخو د بیارغونې چارې د ټولو ساختماني او طبي معیارونو په پام کې نیولو سره د ملي پراختیا شرکت له لوري، د ۱۴۰۵ کال تر سرطان میاشتې پورې ۶۰ سلنه بشپړې شوې او پاتې چارې به یې د ۱۴۰۵ کال تر پایه بشپړې شي. په دې چارو کې د پخوانیو ساختمانونو اساسي بیارغونه او معیارونو ته برابرول، د سراپا شپږ پوړیزې نوې ودانۍ جوړول، د اکسیجن د دوه پوړیزې نوې ودانۍ جوړول، د طبي هوا او واکیوم مکمل نوي سیستم نصب، د نویو صحي معیارونو مطابق د تهویې سیستم نصب، طبي اکسیجن، د موټرو لپاره د نوي پارکینګ جوړول، مسجد، سړکونه، شنه ساحه او ځینې نورې وړې پروژې شاملې دي. د الشفاء روغتون د نویو برخو په جوړولو او د پخوانیو ساختمانونو په اساسي بیارغونه ۱.۴ میلیارده افغانۍ لګښت راځي، چې د افغانستان اسلامي امارت له بودیجې ورکول کېږي. د چارو تر بشپړېدو وروسته به په دې روغتون کې په ورځني ډول سلګونو هېوادوالو ته د زړه جراحۍ، د پښتورګیو تبدیلۍ، هموډیالیزم، د سرطاني ناروغیو درملنې، عمومي جراحۍ، داخلې او صدري څانګو، د جدي څارنې برخو، بیړنۍ څانګې، لابراتوار، کلینیک او په یوشمېر نورو برخو کې په ټولو طبي معیارونو برابر خدمات وړاندې شي. د افغانستان اسلامي امارت هېوادوالو ته د ژوند نورو برخو کې د اسانتیاو برابرولو سربېره د روغتیا په برخه کې هم د معیاري خدمتونو وړاندې کولو ته ژمن دی او په همدې موخه یې د هېواد په څه باندې ۳۰۰ ولسوالیو کې د نویو عمومي روغتونونو جوړولو او ترڅنګ یې د لویو روغتونونو بیارغونې او معیار ته د برابرېدو هڅې پیل کړې دي.



## په ارزګان ولایت کې د باروړونکو موټرو لپاره معیاري ترمینل جوړېږي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسیون په وروستۍ ناسته کې د یوشمېر نورو پراختیایي پروژو ترڅنګ په ارزګان ولایت کې د باروړونکو موټرو لپاره د معیاري ترمینل جوړولو پروژه هم منظوره شوه. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د مالوماتو له مخې، دغه ترمینل به د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ځمکني ټرانسپورټ له منل شویو معیارونو سره سم په ۲۰۰ جریبه ځمکه جوړ شي او په یو وخت کې به د لسګونو لویو باروړونکو موټرو د ځاییدو ظرفیت ولري. د دې پروژې ټولیز لګښت ۶۵ میلیون افغانۍ اټکل شوی، چې د افغانستان اسلامي امارت له بودیجې ورکول کېږي. په دې ترمینل کې به د موټر چلوونکو لپاره اړینې اسانتیاوې برابرې شي. منظم پارکېنګ، د اوبو رسولو شبکه، د برېښنا سیسټم، مسجد، د اوداسه ځایونه، رسټورانټ، ورکشاپ او ځینې نور اړین تاسیسات په پام کې نیول شوي دي. د ترمینل د جوړولو چارې به په ۱۲ میاشتو کې بشپړې شي، چې لسګونه هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره کړي. د یادونې وړ ده چې د ارزګان ولایت ترڅنګ د هېواد په یو شمېر نورو ولایتونو کې هم د مسافرو او باروړونکو موټرو لپاره د معیاري ترمینلونو د جوړولو چارې روانې دي. دغه ترمینلونه د ځمکني ټرانسپورټ د معیاري کېدو، د ټرانسپورټي خدمتونو د تنظیم او د مسافرو او موټر چلوونکو لپاره د اسانتیاوو برابرولو په برخه کې مهم ګامونه ګڼل کېږي.



## له تمویلوونکو سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لومړیتوبونه شریک شول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د عامه اړیکو ریاست په مشرۍ د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې د ملګرو ملتونو، نړیوالو موسسو، تمویلوونکو او پراختیایي شریکانو له استازو سره د افغانستان د سکټوري ادارو د لومړیتوبونو شریکولو لومړنۍ غونډه جوړه شوه. غونډه کې له تمویلوونکو سره د افغانستان اسلامي امارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لومړیتوبونه شریک شول. دغه لومړیتونه د زېربناوو او تجهیزاتو، ښوونیزو برنامو، پراختیا او ظرفیت لوړونې برخو اړوند دي، چې د افغانانو د واقعي اړتیاوو پر بنسټ مشخص شوي، څو راتلونکې مرستې او پراختیایي همکارۍ تر ممکنه حده د همدې لومړیتوبونو په چوکاټ کې تنظیم او همغږې شي. له تمویلوونکو سره د اسلامي امارت د سکټوري ادارو د لومړیتوبونو شریکول به لومړیتوبونه له منابعو، مرستې به له اړتیاوو او پراختیا به له واقعي پایلو سره منظم او همغږي کړي. د تمویلوونکو بنسټونو استازو د اسلامي امارت د سکټوري ادارو د لومړیتوبونو شریکول خورا مهم وبلل او وېې ویل، چې په دې سره به دوی وکولای شي خپل راتلونکي فعالیتونه په ښه ډول منظم او تطبیق کړي. د یادونې وړ ده چې په راتلونکي کې به د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د عامه اړیکو ریاست له لوري د اسلامي امارت د ۱۳ سکټوري ادارو لومړیتوبونه هم په تدریجي ډول له تمویلوونکو سره شریک شي.

# انفوگرافیکونه



# انفوگرافیک

## په هلمند کې ۲۰۰ بستریز روغتون جوړیږي

| | |
|---|---|
| د بسترونو شمېر: | ۲۰۰ |
| تولیز لگښت: | ۲۱۴ میلیون افغانۍ |
| د جوړېدو موده: | شاوخوا دوه کاله |
| مساحت: | ۱۲ زره متر مربع |

دغه پروژه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسیون په وروستۍ ناسته کې منظور شوې ده.

**خدمات:** عاجله برخه، سراپا، ارتوپیدي، جراحي، د سترگو برخه، عقلي او عصبي برخه، د کوچنیانو برخه او نسایي ولادي.



# انفوگرافیک

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs

## د تدارکاتو کمېسیون وروستۍ ناسته کې د درېیو عمومي روغتونونو جوړولو پروژې منظوري شوې



**موقعیتونه**

| میدان وردگ | بدخشان | کندز |
|---|---|---|
| چک ولسوالي | شغنان ولسوالي | قلعه‌ذال ولسوالي |

د روغتونونو ډول: CHC

مجموعي لګښت: ۲۰۸ میلیون افغانۍ

تمویل: د افغانستان اسلامي امارت



# انفوگرافیک

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs

## ټولګټو وزارت د لویو لارو او سړکونو ۷۴ پروژې تر کار لاندې لري

### کاري فرصتونه

په مستقیم ډول
۲۰۵۹۶
هېوادوال

په غیر مستقیم ډول
۱۱۲۰۰۰
هېوادوال

۹۴۹۳
ماشینري

### مهمې پروژې

۱. د کابل - غزني دویم لین سړک
۲. د سالنګونو لویه لار
۳. د کونړ - نورستان سړک
۴. د دشت ارچي - کندوز سړک
۵. د کندهار - سپین بولدک سړک
۶. د میمنې - فردوس سړک
۷. د کندهار - هلمند سړک
۸. په بادغیس ولایت کې حلقوي سړک
۹. د قوش‌تیپې - درزاب سړک




@FDPM_AFG | fdpm_afg | dpmea.gov.af

# انفوگرافیک

Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

## درولسوالی علی‌آباد ولایت کندز
## یک شفاخانه عمومی ساخته می‌شود

| هزینه | مدت تکمیل | مساحت | بستر | خدمات |
|---|---|---|---|---|
| ۶۹.۴ میلیون افغانی | ۱۸ ماه | پنج جریب زمین | ۳۰ | داخله، جراحی، اطفال و نسائی ولادی |



TDPM_AFG

# انفوگرافیک



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs
Herat
د گلبهار سیمنټو فابریکه
د جوړېدو چارو پیل
اسد ۱۸مه
د تولید ورځنی ظرفیت
۳۰۰۰ ټنه
کاري فرصتونه
۵۰۰۰ هېوادوال
د بشپړېدو وخت
دوه کاله
د پانګونې کچه
۱۴۳ میلیون ډالر
موقعیت
هرات – زنده جان
ولسوالي
@FDPM_AFG

# انفوګرافیک

## د صنعت سکټورکې د پانګونې فرصتونه

افغانستان د ستراتېژیک موقعیت، سرشاره طبیعي منابعو او د ځوان کاري ځواک په لرلو سره د صنعت په سکټورکې د پانګونې لپاره کلیدي فرصتونه لري:



۱ د صنعتي زېربناوو د تاسیس په برخه کې پانګونه؛

۲ له ملي او نړیوالو معیارونو سره سم د خامو موادو د پروسس او صنعتي کېدلو په برخه کې پانګونه؛

۳ د کوچنیو او متوسطو صنایو او لاسي صنایعو په برخه کې پانګونه؛

۴ د کثافاتو د ریسایکل کولو او بیا استفادې په برخه کې پانګونه؛

۵ د ځان بسیاینې هدف ته د رسېدو په موخه د واردېدونکو توکو د تولید او اړونده برخه کې پانګونه.

**یادونه:** ټول پانګوال کولای شي په دې برخه کې خپلې طرحې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

@FDPM_AFG fdpm_afg dpmea.gov.af

دریاست الوزراء اقتصادی معاونیت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs

# در پکتیکا سردخانه‌ای با ظـرفیت ٦٠٠ متریک تُن اعمار می‌گـردد

ظـرفـیت
۶۰۰ متریک تُن

مساحـــت
شش جریب زمین

پیشرفت کار
۳۰ فیصد

تکمیل کار باقی‌مانده
سال ۱۴۰۵

هـزینـه
۹۳٫۵ میلیون افغانی

**در این سردخانه ، میوه‌های تازه و محصولات زراعتی نگهداری می‌شود که برای دهقانان ولایت پکتیکا سهولت ها را ایجاد خواهد کرد.**



# مقالې

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند



# په تېرو پنځو کلونو کې د برېښنا سکتور کې رامنځته شوي پرمختګونه

فضل ولي شېراني

په دې لیکنه کې په هېواد کې د اوبیزې برېښنا د لویو بندونو، د برېښنا زېربناوو، په هېواد کې د برېښنا د وروستیو پیل شویو پروژو او شویو هوکړو په اړه خبرې شوې دي.



## سریزه

په افغانستان کې د برېښنا دوامدار کمښت یوه جدي او حیاتي ستونزه ده، چې هم پر ورځني ژوند منفي اغېز کوي او هم د هېواد د صنعتي سکتور د پراختیا لپاره لوی خنډ ګڼل کېږي. دا وضعیت نه یوازې د عامو وګړو د هوساینې مخه نیسي، بلکې د تولیدي فابریکو، کوچنیو صنایعو او پانګوالو لپاره هم د نهیلی سبب ګرځي او اقتصادي وده محدودوي. په داسې حال کې چې افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د برېښنا د تولید له پاره پراخې سرچینې لري. په افغانستان کې د دغو سرچینو له ډلې یوازې له اوبو څخه، هغه هم په ډېره کمه پیمانه ګټه اخیستل شوې؛ خو پاتې نورې سرچینې بې ګټې پاتې دي. د څېړنو له مخې افغانستان کولای شي له اوبو څخه ۲۳زره میګاواټه، له لمر څخه ۲۲۳ زره میګاواټه، له باد څخه ۶۸ زره میګاواټه او له ګازو څخه ۶۰۰ میګاواټه برېښنا تولید کړي. همدارنګه د نوې کېدونکې انرژۍ د نړیوال مرکز د شمېرو له مخې افغانستان په کال کې شاوخوا ۳۰۰ لمریزې ورځې لري، چې کولای شي په هرلس متر مربع کې یو کیلو واټ لمریزه انرژي تولید کړي. دا راز د دغه هېواد په بېلابېلو برخو کې موسمي بادونه د بادي برېښنا د تولید په برخه کې فرصت برابروي. د افغانستان اسلامي امارت پورتنیو ټکو ته په پاملرنې له هغو طبیعي سرچینو څخه چې د برېښنا د تولید وړتیا لري، د برېښنا د تولید په برخه کې ځینې ګامونه اخیستي دي. په دې لیکنه کې هغو مهمو ګامونو ته اشاره کېږي چې اسلامي امارت په تیرو پنځو کلونو کې د برېښنا سکتور د پراختیا په موخه اخیستي دي. په لومړي سر کې به له اوبو څخه د برېښنا د تولید په برخه کې د اسلامي امارت ترسره شویو فعالیتونو ته لنډه کتنه وکړو.

## اوبیزه برېښنا

د څېړنو له مخې افغانستان کولای شي له اوبو څخه ۲۳زره میګاواټه برېښنا تولید کړي. اسلامي امارت د اوبیزې برېښنا د تولید په برخه کې مهم ګامونه پورته کړي دي. په دې برخه کې د اوبو د هغو بندونو بیارغونه او جوړونه شامله ده چې کولای شي برېښنا تولید کړي، چې لاندې یې ځینو ته اشاره کوو.

**کجکي بند:** د کجکي بند د دویم فاز چارې د ۱۴۰۱ لمریز کال د اسد په پنځمه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې. دکجکي دویم فاز کې د ترکي ۷۷ شرکت له لوري ۱۶۰ میلیون ډالر پانګونه شوې او د دویم فاز د چارو په بشپړېدو یې ظرفیت له ۵۰ میګاواټو څخه ۱۵۰ میګاواټو ته پورته شو.

**کمال خان بند:** د کمال خان بند چې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو ترڅنګ د نهه میګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري، چې پاتې چارې یې د اسلامي امارت له لوري پیل شوې. د ۱۴۰۲ لمریز کال د وري میاشتې په لومړۍ نېټه نیمروز ولایت ته د سفر پرمهال د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کمال خان بند د توربینونو د نصبولو له بهیر څخه لیدنه وکړه او د اوبو د ذخیرې د ظرفیت د زیاتوالي، د اړونده کانالونو د پاک کارۍ او په ټوله کې د چارو د ښه مدیریت په اړه یې اړوندو مسوولینو ته لازمې لارښوونې وکړې. د کمال خان بند پاتې چارې د ملي پراختیا شرکت له لوري پیل شوې وې او ۱۴۰۳ لمریز کال کې پای ته ورسیدې.

**بخش آباد بند:** د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۰مه نیټه د بخش آباد بند د تونلونو جوړولو چارو پرانیسته وکړه. ددې بند د انحرافي تونلونو چارې بشپړې شوې دي. یاد بند د کرنیزو ځمکو د خړوبولو په خوا کې د ۲۷ میګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت هم لري.

**پاشدان بند:** د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳کال د ثور په نهمه نېټه د هرات ولایت په کرخ ولسوالۍ کې د پاشدان بند د پاتې چارو پرانیسته وکړه. د دغه بند پاتې چارې د ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد په ۲۳مه بشپړې او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شو. د پاشدان بند شاوخوا ۵۴ میلیونه متره مکعب اوبه زېرمه، ۱۳ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه او ۲ مېګاواټه برېښنا تولیدوي.

**ماهوګي بند:** په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون غونډه کې د کونړ د ماهوګي برېښنا بند د پاتې چارو د بشپړولو منظوري ورکړل شوه. دغه بند د ۲.۱ مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري چې ۴۰۰۰ کورنیو ته به د اړتیا وړ برېښنا برابره کړي.

**سلطان ابراهیم بند:** د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه کې چې د ۱۴۰۲ لمریز کال د

اسد میاشت کې جوړه شوې وه، د سرپل ولایت د سلطان ابراهیم بند د جوړېدو منظوري ورکړه. ددې بند عملي چارې د ملي پراختیا شرکت له لوري پیل شوې. د سلطان ابراهیم بند د ۲۰ میګاواټه برېښنا تولید ظرفیت لري.

**د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه:** د ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب په ۲۲مه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه څلور مېګاواټه برېښنا تولیدوي.

## د برېښنا زیربناوې

**د شبرغان - الوان دښتې د ۵۰۰ کیلو ولټه برېښنا مزي غځولو او د دشت الوان سب سټېشن پراختیا پروژه:** د ۱۴۰۲ لمریز کال د عقرب په ۲۴مه ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د شبرغان - الوان دښتې د ۵۰۰ کیلوولټه برېښنا مزي د پاتې چارو او همدارنګه د الوان دښتې سب سټېشن د پراختیا پروژو د بشپړولو موافقتنامې لاسلیک شوې، چې د همدې کال د قوس میاشتې په ۳۰مه له شبرغان څخه تر الوان دښتې او له الوان دښتې بیا د کابل ولایت تر ارغندۍ سیمې پورې د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي د غځولو پروژه پرانیسته وشوه. له شبرغان څخه تر الوان دښتې او له الوان دښتې بیا د کابل ولایت تر ارغندۍ سیمې پورې د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي د غځولو پروژه په بشپړېدو سره به له ترکمنستان څخه سلګونه میګاواټه برېښنا په کمه بیه وارده، ډېر شمېر کورنۍ به له برېښنا څخه برخمنې او د ۱۲ ولایتونو د برېښنا د کمښت ستونزه به ورسره حل شي.

**د کابل ولایت د ارغندۍ سب سټېشن د پاتې چارو د پیل پرانیسته:** ۱۴۰۳ لمریز کال د سرطان میاشتې اوومه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د کابل ولایت د ارغندۍ سب سټیشن د پاتې چارو پرانیسته وشوه. دا سب سټېشن د بغلان له خواجه الوان دښتې څخه د کابل تر ارغندۍ سیمې پورې د ترکمنستان برېښنا د لېږد له پاره جوړېږي، چې لګښت یې اته میلیونه او شپږ سوه زره ډالره اټکل شوی دی.

**کندهار، زابل او هلمند کې د برېښنا درېیو پراختیایي پروژو پاتې چارو پیل:**

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه په کندهار، زابل او هلمند کې د برېښنا درېیو لویو پراختیایي پروژو پاتې چارې پیل شوې. په دې پروژو کې د زابل مرکز قلات سب‌سټېشن او د کندهار ختیځ سب‌سټېشن د پاتې چارو بشپړول او همداراز له کجکي برېښنا تولیدي فابریکې څخه د کندهار ختیځ سب‌سټېشن پورې د ۱۱۰ کېلوولټ برېښنا لېږد مزي غځول شامل دي. په یادو پروژو باندې نږدې یو میلیارد افغانۍ لګښت راځي چې سلګونه زره نوي پېرودونکي به له برېښنا برخمن شي.

**له ازبیکستان سره د برېښنا د څلورو قراردادونو لاسلیک کېدل:** د ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد په ۲۶مه له ازبیکستان سره د ۲۴۳ میلیون ډالرو په پانګونې د برېښنا څلورو پروژو قراردادونه لاسلیک شول. په دې پروژو کې د ۱۰۰۰ مېګاواټه په ظرفیت د سرخان - دښت الوان ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا لېږد مزي، د ۸۰۰ مېګاولټ امپیر په ظرفیت د ارغندۍ سب سټېشن پراختیا، د ۸۰۰ مېګاواټه په ظرفیت د کابل - شیخ مصري ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا لېږد مزي او د ۱۲۶ مېګاولټ امپیر په ظرفیت د ننګرهار شیخ مصري سب سټېشن جوړولو پروژې شاملې دي، چې د ازبیکستان له لوري پرې شاوخوا ۲۴۳ میلیون ډالر پانګونه کېږي. د دې پروژو په بشپړېدو سره به افغانستان له ازبیکستان څخه له ۸۰۰ تر ۱۰۰۰ مېګاواټه برېښنا ترلاسه کړي.

## د برېښنا تولیدي او برېښنا رسونې پروژې

**د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید تفاهم‌لیک لاسلیک:** د ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد په ۱۱مه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت ترمنځ د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید تفاهم لیک لاسلیک شو.

**د ۹۴۰۷ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید تفاهمنامو او قراردادونو لاسلیک:**

د ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې په ۱۵مه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې په انترکانتیننټل هوټل کې د پانګونې جذب او د افغانستان د برېښنا سکټور ملاتړ کنفرانس کې د افغانستان برېښنا شرکت او یوشمېر پانګوالو شرکتونو ترمنځ د ۹۱۲۳



مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید او برېښنايي زېربناوو جوړولو تفاهمنامې او د ۲۸۴ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید قراردادونه لاسلیک شول.

**د ۲۰.۷ میلیارد افغانیو په پانګونې سره د برېښنا د تولید او انتقال پروژو قراردادونو لاسلیک:** ۱۴۰۴المریز کال د حمل په اوومه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور ترمنځ د برېښنا تولید د اوو او د برېښنا انتقال د درېیو پروژو قراردادونه لاسلیک شول. د برېښنا تولید په اوو پروژو کې په بلخ ولایت کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په هرات ولایت کې د پنځه میګاواټه لمریزې برېښنا، په لغمان ولایت کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا، په هرات ولایت کې د ۲۰۰ میګاواټه بادي برېښنا د لومړي فاز ۴۳.۲ میګاواټه برېښنا، په لوګر ولایت کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په ننګرهار ولایت کې د ۴۰.۲۵ میګاواټه لمریزې برېښنا، په جوزجان ولایت کې د ۵۰ میګاواټه ګازي برېښنا پروژې شاملې دي.

**د جوزجان ولایت قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې تړون لاسلیک‌بدل:** پر دغه پروژه شاوخوا یو میلیارد او ۸۸۶ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې چارې به یې په درېیو کلونو کې بشپړې شي. په دې پروژه کې د ۸۵.۲۴ کیلومترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلوولټ برېښنا مزي غځول، په قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو کې د دوه سب ستېشنونو او دوه توزیعي شبکو جوړول شامل دي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې زرګونه کورنۍ له برېښنا برخمنې شي.

**هرات کې د برېښنا د یو شمېر لویو پروژو د چارو پیل او د ځینو ګټې اخیستنې ته سپارل:** له ترکمنستان څخه د ۱۳۰ کیلومتره په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلوولټ لین غځول او په کرُخ، پشتون زرغون، اوبې او چشت شریف ولسوالیو کې د څلورو سب‌ستېشنونو جوړول هغه پروژې دي چې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي. د یادو پروژو له لارې ۴۰ زره کورنیو ته برېښنا رسول کېږي. همدارنګه په نویو پیل شوو پروژو کې د پُل هاشمي سب‌ستېشن جوړول، د ۲۴ حوت شهیدانو سب‌ستېشن پراختیا، د نورالجهاد سب‌ستېشن د بې لین ایجاد او همدارازد پُل هاشمي، نورالجهاد او د ۲۴ حوت شهیدانو سب‌ستېشنونو ترمنځ د برېښنا انتقالي لین غځول شامل دي.

**د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ ترمنځ د برېښنا د تولید د پنځو پروژو لاسلیک‌بدل:** د ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې په ۲۲مه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضورکې د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل تړونونه لاسلیک شول. د دې تړونونو له مخې به د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت د کابل ولایت په نغلو سیمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا، د پروان ولایت په باریک اب سیمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا، په غزني ولایت کې۱۳۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا او

همدارنگه په تخار ولایت کې ۱۶۵ مېګاواټه او په بغلان ولایت کې۳۵۰ مېګاواټه د ډېرو سکرو برېښنا تولید کړي.

**لـه کجکي بنـد څخه د ارزګان د هراوود ولســوالۍ ته د برېښــنا رسونې پروژه:** له کجکي بند څخه د ارزګان ولایت دهراوود ولســوالۍ ته د برېښنا رســونې دغه پروژه د افغانســتان برېښنا شــرکت په مالي ملاتړ د ۲۰۱ میلیــون افغانیو په لګښــت پلې کېږي، چې په بشپړېدو ســره به یې شاوخوا ۴۵۰۰ کورنیو ته برېښنا ورکړل شي.

## د لمریزې او بادي برېښنا پروژې

لمریزه برېښــنا د انرژۍ یوه پاکه، دوامداره او اقتصــادي ســرچینه ده. د دې پــراخ اســتعمال کولی شي د برېښــنا کمښت کم کړي، د چاپېریال ساتنه وکړي او د هېواد په اقتصــادي پرمختګ کې مهمــه ونډه ولري. اسلامي امارت هڅه داده چې د برېښــنا په برخــه کې هېواد پر ځان بســیا کړي. په تیرو پنځو کلونو کې یې د لمریزې برېښنا د تولید په برخه کــې یو شــمیر پروژې پیل کړې چې ځینــې یې بشــپړې او پر ځینو یــې لا هم کار روان دی. په لانــدې ډول یې د ځینو یادونه اړینه بولو.

**نغلو بند ســره نــږدې ۱۰ مېګاواټــه لمریزې برېښــنا پروژه:** د ۱۴۰۲ لمریز کال د اســد په ۲۸مــه نیټــه د ریاســت الــوزراء اقتصــادي مرستیال محترم ملاعبدالغني برادر اخوند له لوري له نغلو بند ســره نږدې د ۱۰ مېګاواټه لمریــزې برېښــنا د تولیــد پروژې پرانیســته وشوه. دغه پروژه چې لس مېګاواټه برېښنا تولیدوي چارې یې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې ده.

**د کابـل سروبـي ولسـوالۍ کـې د ۲۲.۷۵ مېګاواټــه لمریــزې برېښــنا پروژه:** د ۱۴۰۲ لمریــز کال د قــوس پــه ۲۳مــه نیټــه د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲.۷۵ مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژې عملي چارې پیــل شــوې. دغــه پروژه بشــپړه او ګټــې اخیستنې ته سپارل شوې ده.

**لوګــرکــې د ۴۰ مېګاواټه لمریزې برېښــنا د تولیــد پروژه:** د ۱۴۰۴ لمریــز کال د زمري په نهمــه نیټــه د ریاســت الــوزراء اقتصــادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د لوګر محمد اغې ولسوالۍ کې د څلویښــت مېګاواټــه لمریــزې برېښــنا د تولید پروژې چارو د پیل پرانیســته وشــوه. دا پروژه کولی شــي د سیمې ۴۰ زره کورنیو ته د اړتیا وړ برېښنا ورسوي او د محمداغې د صنعتي پارک د برېښنا د کموالي ستونزه هم حل کړي.

**لغمان کــې د ۱۰ مېګاواټه لمریزې برېښــنا د تولیــد پروژه:** د ۱۴۰۴ لمریــز کال د جــوزا په لومــړۍ نیټــه د ریاســت الــوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري په لغمان ولایت کې د لس مېګاواټه لمریــزې برېښــنا د تولیــد پروژې د جوړېدو چــارې پرانیســتل شــوې. پــر یــاده پروژه د خصوصي سکټور له لوري شــپږ میلیون ډالر پانګونه کېږي او په بشــپړېدو سره به یې د سیمې اوسېدونکو د برېښنا ستونزه تر یوې انــدازې حل او صنعتي فعالیتونه به ورســره پراختیا ومومي.

**هــرات کــې د لمریزې او بــادي برېښــنا دوې پروژې:** د ریاســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمریز کال د جوزا میاشتې په لســمه نېټه پــه هــرات ولایت کــې د ۴۳.۲ مېګاواټه بادي او پنځــه مېګاواټه لمریزې برېښــنا تولیدي پروژې پرانیســتل شــوې. د خصوصــي ســکټور او افغانســتان برېښــنا شــرکت لــه لــوري د ۴۳.۲مېګاواټــه بادي برېښــنا پر پروژه څه باندې ۶۴میلیون ډالر او پــر پنځــه مېګاواټه لمریــزه برېښــنا پروژه شاوخوا ۳.۵میلیون ډالر پانګونه کېږي.

## د برېښنا اقتصادي ګټې

برېښنا د بشــر په پرمختګ او د یوه هېواد د اقتصــاد په پیاوړتیــا کې ډېر مهــم رول لري. برېښنا د شلمې پېړۍ له لومړۍ نیمایي څخه وروسته په ژوندانه او صنعتي فعالیتونو کې تــر ټولــو زیــات رول لوبولی دی، برېښــنا په معاصــره نړۍ کې د بل هــر مصرفي توکي په پرتله ډېر اهمیــت لري. دا ځکه چې د کورونو لــه رڼا کولو نیولــې بیا د صنعتــي فابریکو تر تولیــد، اطلاعاتــو، ســوداګریزو فعالیتونو، امنیتــي دنــدو او نــورو اقتصــادي او اداري فعالیتونو پورې هر څه د برېښنا پر مټ مخ ته ځــي. نــو لــه دې څخــه جوته شــوه چې د هېوادونو اقتصادي جوړښــت او پرمختګ د برېښــنا پــه تولیــد پــورې اړه لري. کلــه چې برېښــنا ډېره او ارزانه وي، نو خلک د صنعتي فابریکو جوړولو ته زړه ښــه کوي. د فابریکو په شــمېر کې چــې زیاتوالی راشــي، د تولید کچه لوړېږي. له دې ســره یوځای بیا د خلکو لــه پاره کاري فرصتونــه زیاتوالی مومي او یو زیات شــمېر خلک په همــدې فابریکو کې په کار مصروفېږي. له دې ســره د بې کارۍ کچه راټیټېږي او تــر ډېــره بریده بې وزلــي پای مومي. لکه څنګه چې د برېښنا د نشتوالي ستونزه د فابریکو او سوداګریزو فعالیتونو

د ټکني کېدو لامل ګرځي، همداسې برېښنا ته لاسرسی د هېواد په اقتصادي وده او پرمختګ هم مهم رول لري. بله دا چې د برېښنا په شتون کې هېوادونه کولای شي له معاصرې ټکنالوژۍ څخه پوره ګټه پورته کړي. نن سبا که حکومتولي ده او یا هم سوداګریزې چارې، روغتیایي یا کرنیز وسایل ټول له برېښنا پرته نه شي چلېدلی. له همدې امله که حکومتونه غواړي خپلې اداري او مالي پروسې اسانه او چټکې او دا پروسې روڼې او له فساده پاکې کړي، نو په کار ده چې لومړی د برېښنا غم وخوري او چمتو یې کړي. اوسمهال نړۍ کې زیاتره سوداګریزې چارې د نوې ټکنالوژۍ پر مټ لکه انټرنیټ مخ ته ځي، خو برېښنا چې نه وي، بیا د انټرنیټ کارول ناشوني دي. دغه راز پرمختللي روغتیایي او کرنیز وسایل د برېښنا په مرسته کار کوي. له برېښنا پرته یو هېواد نه شي کولای له دغو پرمختللو وسایلو څخه د ناروغیو د کنټرول او یا هم د کرنې د پرمختګ په برخه کې ګټه پورته کړي. اقتصادي وده او پرمختګ له برېښنا پرته امکان نه لري. حکومتونه باید له خپلو هغو سرچینو څخه چې کولای شي برېښنا تولید کړي، په بشپړ ډول استفاده وکړي. اسلامي امارت همدې ټکو ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګامونه پورته کړي دي او پر دې بریالی شوی چې د برېښنا د تولید په برخه کې بنسټیزې پروژې پیل کړي.

## پایله

برېښنایي انرژۍ د چمتو کولو له پاره څو ټکي مهم دي. لومړی دا چې نن سبا برېښنا په نړۍ کې ډېر زیات اهمیت او ارزښت لري. باور دادی چې له برېښنا پرته ژوند اصلاً دوام نه شي پیدا کولی، ځکه د کورونو له روښانولو نیولې بیا صنعتي کارخونو، ښوونځیو، پوهنتونونو، روغتونونو او حکومتي ارګانونو پورې ټول برېښنا ته اړتیا لري او ځیني خو لا داسې وسایل هم شته چې له برېښنا پرته د کار وړ نه دي. دغه راز ټکنالوژیکي وسایل خو له برېښنا پرته بې اهمیته دي او کوم اهمیت نه لري، ځکه که برېښنا نه وي، نو د هغو کارول هم ناشوني دي. له دې امله د ارزانې، باکیفیته او دوامداره برېښنا موجودیت اړین دی. افغانستان د برېښنا د تولید له پاره زیاتې سرچینې لري. له اوبو نیولې، بیا تر تېلو، ګاز، ډبرو سکرو، باد، لمر او داسې نور. دا دومره برېښنا ده چې داخلي اړتیاوې خو پوره کوي، کولای شي اضافي هغه یې نورو هېوادونو صادره کړو. که چیرې افغانستان پر دې وتوانېږي چې د خپلې اړتیا وړ برېښنا چمتو کړي، نو له یوه لوري به افغانستان نور دې اړتیا ونه لري چې د برېښنا چمتو کولو له پاره مېلیونونه ډالر نورو هېوادونو ته ورکړي اوله بل پلوه، دا هېواد به په هره برخه، په تیره بیا اقتصادي برخه کې پر خپلو پښو ودرېږي.



# پیشرفت صنعتی افغانستان
## در پنج سال گذشته

نجیب‌الله مایار

در ایـن مقاله روی تلاش هـای امارت اسلامی برای رشـد فعالیت های صنعتی، توزیـع زمین به صنعـت‌کاران، ایجاد فابریکه‌هـای تولیدی و ارزش اقتصادی صنعت و فعالیت های تولیدی بحث شـده است.



## مقدمه

صنعت از مهم‌ترین پایه‌های رشد اقتصادی هر کشور، کاهش واردات، افزایش صادرات و ایجاد فرصت‌های کاری به‌شمار می‌رود. افغانستان که به‌دلیل چندین دهه جنگ، زیربناهای صنعتی آن به‌شدت آسیب دیده بود، در پنج سال گذشته، امارت اسلامی برای احیا و توسعه بخش صنعت گام‌های متعددی برداشته است. توسعه پارک‌های صنعتی، ایجاد فابریکه‌های جدید، افزایش تولیدات داخلی و تشویق سرمایه‌گذاری سکتور خصوصی از مهم‌ترین بخش‌های این تلاش‌ها به‌شمار می‌روند. در نتیجه تلاش‌های امارت اسلامی، اکنون نزدیک به هفت هزار فابریکه در کشور فعالیت دارند و همه‌ساله حدود ۵۰۰ جواز فعالیت صادر می‌شود. علاوه بر این، برای تأمین امنیت سرمایه‌گذاری و تشویق، حمایت و تضمین فعالیت‌های سکتور خصوصی نیز گام‌های جدی برداشته شده است. در حال حاضر بیش از ده پارک صنعتی در کشور فعال است و افغانستان در بخش تولید محصولات زراعتی، دوا، مواد غذایی، صنایع دستی و بسیاری از بخش‌های دیگر تولیدات دارد. کشور اکنون در تولید ۳۰۰ قلم جنس به خودکفایی رسیده، در تولید شماری از اجناس به نیمه‌خودکفایی دست یافته و در نزدیک به ۶۰ بخش دیگر نیز تولیدات دارد. امارت اسلامی تلاش می‌کند با توسعه صنعت در افغانستان، سطح تولیدات را افزایش داده و کشور را در بخش‌های مختلف به خودکفایی برساند.

## تلاش‌های امارت اسلامی برای رشد فعالیت‌های صنعتی

زمانی که پنج سال پیش امارت اسلامی بار دیگر حاکمیت را در کشور به‌دست گرفت، سکتور صنعت با وضعیت نیمه‌فلج روبه‌رو بود. بسیاری از فابریکه‌هایی که در کشور فعالیت خود را آغاز کرده بودند، از فعالیت بازمانده بودند و آن فابریکه‌ها که هنوز فعال بودند نیز با مشکلات فراوان دست‌وپنجه نرم می‌کردند. امارت اسلامی با اتخاذ سیاست اقتصادمحور، در کنار سایر سکتورها، به بخش صنعت نیز توجه خاص نمود. برای صنعت‌کاران و سرمایه‌گذاران تسهیلات جدی فراهم ساخت و سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی را تشویق کرد تا با شرایط آسان در کشور سرمایه‌گذاری نمایند. با تأمین امنیت سراسری در کشور، بسیاری از سرمایه‌گذاران آماده شدند تا از این فرصت استفاده نموده و در بخش‌های مختلف سرمایه‌گذاری کنند.امارت اسلامی از زمان حاکمیت دوباره تااکنون، در زمینه بازگشایی راه‌های تجارتی با کشورهای منطقه و فرامنطقه، تقویت موقعیت ترانزیتی کشور، تدوین قوانین، توزیع زمین‌های صنعتی، تطبیق تعرفه‌های ترجیحی، افزایش تعرفه بر اجناس وارداتی که مشابه آن‌ها در داخل کشور تولید می‌شود، برگزاری نمایشگاه‌ها در داخل و خارج از کشور، فراهم نمودن زمینه توافق‌نامه‌های همکاری اقتصادی میان کشورها و نیز گسترش همکاری‌های اقتصادی میان سکتور خصوصی افغانستان و سکتور خصوصی سایر کشورها، دستاوردهای ملموسی داشته است. به طور فشرده به چند مورد این اقدامات اشاره می‌کنیم:

## توزیع زمین به صنعت‌کاران

به‌منظور تنظیم ساحات صنعتی، رشد و توسعه اقتصادی کشور، جلب و جذب سرمایه‌گذاری خصوصی و نیز مدیریت، حفظ و مراقبت از ساحات صنعتی، رهبری امارت اسلامی افغانستان قانون ساحات صنعتی را منظور نمود. بر اساس این قانون، به تاریخ ۷ جوزای سال ۱۴۰۴ هجری شمسی، پروسه توزیع زمین به سرمایه‌گذاران از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، آغاز شد و در مرحله اول، به ۹۱ شرکت مختلف توزیع اسناد زمین در ساحات صنعتی آغاز گردید. در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شده بود، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، گفت که با توزیع زمین در ساحات صنعتی، فصل تازه‌ای آغاز خواهد شد و کشور از نگاه صنعتی بیش از پیش تقویت خواهد شد.معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء گفت که به‌منظور تنظیم ساحات صنعتی، رشد و توسعه اقتصادی کشور، جلب و جذب سرمایه‌گذاری خصوصی و مدیریت، حفظ و مراقبت از ساحات صنعتی، قانون ساحات صنعتی از سوی رهبری امارت اسلامی افغانستان توشیح شده است. به گفته حاجی ملا صاحب، این قانون زمینه‌های لازم و سایر تسهیلات مربوط را برای صنعت‌کاران و سرمایه‌گذاران به‌منظور انجام فعالیت‌های صنعتی در ساحات صنعتی فراهم می‌سازد تا از یک طرف برای هموطنان زمینه کار ایجاد شود و از سوی دیگر، دستاوردهای قابل توجه در رشد و توسعه اقتصادی کشور به‌همراه داشته باشد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند گفت که در مورد واگذاری زمین برای ایجاد ساحات صنعتی، عالیقدر امیرالمؤمنین

حفظ الله تعالی حکم نموده که مطابق قانون جدید تصویب‌شده، با درنظرداشت حفاظت محیط‌زیست و ماسترپلان شهری، در چهار طرف شهر کابل دو دو هزار جریب زمین، در ولایت‌های ننگرهار، قندهار و بلخ هر کدام بیست هزار جریب زمین و در ولایت کندز ده هزار جریب زمین اختصاص داده و واگذار شود. محترم ملا صاحب افزود که در سایر ولایت‌ها نیز، در صورت امکان، برای پارک‌های صنعتی در هر ولایت یک‌هزار جریب زمین و برای صنایع و تشبثات کوچک، در هر ولایت از ده تا پنجاه جریب زمین اختصاص داده و واگذار خواهد شد. بر اساس این قانون، در سراسر کشور ۱۶۰ هزار جریب زمین به صنعت‌کاران اختصاص یافته است. بر بنیاد آمار رسمی، در پنج سال گذشته در مجموع ۲۸۰۰ جریب زمین به صنعت‌کاران توزیع شده است.

علاوه بر این در پنج سال گذشته، به گونه دوامدار هر سال بیش از ۵۰۰ جواز صنعتی صادر شده است. این نشان می‌دهد که در طول پنج سال گذشته، بین ۲۵۰۰ تا ۳۰۰۰ صنعت‌کار در مرکز و ولایت‌های مختلف کشور جواز فعالیت دریافت کرده‌اند. در نتیجه این تلاش‌ها، هم‌اکنون ۱۳ پارک صنعتی فعال در مرکز و ولایت‌های کشور وجود دارد که عبارت‌اند از:

- پارک صنعتی پلچرخی؛
- پارک صنعتی جمعه محمد محمدی (فاز اول و دوم)؛
- پارک صنعتی امیرعلی‌شیر نوایی (فاز اول و دوم)؛
- پارک صنعتی شادیان ولایت بلخ؛
- پارک صنعتی شوراندام ولایت قندهار (فازهای شمالی و جنوبی)؛
- پارک صنعتی شوراندام ولایت قندهار؛
- بلاک اول، دوم و سوم پارک‌های صنعتی ولایت هرات؛
- فاز چهارم پارک صنعتی ولایت هرات؛
- پارک صنعتی باریک‌آب ولایت پروان؛
- و پارک صنعتی شیخ مصری ولایت ننگرهار.

امارت اسلامی با تطبیق چندین پروژه برق میخواهد مشکل کمبود برق را به صورت اساسی حل نموده و برای صنعت کاران برق کافی را فراهم سازد.

## ایجاد فابریکه‌های تولیدی

امارت اسلامی افغانستان در پنج سال گذشته شماری از فابریکه‌های دولتی را که از فعالیت بازمانده بودند، دوباره فعال ساخته و اکنون در حال فعالیت هستند. علاوه بر آن، با همکاری سکتور خصوصی، فابریکه‌های جدیدی نیز ایجاد و به بهره‌برداری سپرده شده‌اند که از یک طرف بخشی از نیازمندی‌های کشور را تولید می‌کنند و از سوی دیگر، برای صدها تن به‌گونه مستقیم و غیرمستقیم زمینه کار مساعد کرده اند. در ادامه این تلاش ها اکنون دو فابریکه بزرگ تولید سمنت، یعنی فابریکه سمنت غوری در ولایت بغلان و فابریکه سمنت جبل‌السراج در ولایت پروان فعال گردیده و به تولید خود ادامه داده است. همچنین، کار ساخت فابریکه‌های سمنت شوراندام قندهار و هرات جریان دارد. تولید فابریکه سمنت غوری در هر ۲۴ ساعت به ۶۰۰ تُن می‌رسد. مسؤلان این فابریکه گفته‌اند که تلاش دارند این اندازه را در هر ۲۴ ساعت به ۱۴۰۰ تُن افزایش دهند. با رسیدن به این ظرفیت، ۱۴ فیصد سمنت مورد نیاز کشور تأمین خواهد شد. همچنین، فابریکه تولید سمنت جبل‌السراج در ولایت پروان پس از ۲۰ سال توقف، دوباره به فعالیت آغاز کرد. این فابریکه که در جریان جنگ‌ها تخریب شده بود، با هزینه ۷۰ میلیون افغانی بازسازی شد و فعالیت خود را از سر گرفت. این فابریکه اکنون در هر ۲۴ ساعت ۱۰۰ تُن سمنت تولید می‌کند. در سال ۱۴۰۲ هجری شمسی، قرارداد فابریکه سمنت جبل‌السراج با سرمایه‌گذاری ۲۲۰ میلیون دالر میان یک شرکت قطری و یک شرکت افغانی به امضاء رسید. بر اساس این قرارداد، فابریکه سمنت جبل‌السراج سالانه ظرفیت تولید یک‌ونیم میلیون تُن سمنت را به دست خواهد آورد. امارت اسلامی به این اقدامات اکتفا نکرده و در ۸ عقرب ۱۴۰۳، با حضور محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، قرارداد ساخت فابریکه تولید سمنت یتیم‌طاق ولایت جوزجان میان وزارت معادن و پترولیم و شرکت ترکی «۷۷» با سرمایه‌گذاری حدود ۱۱ میلیارد افغانی به امضاء رسید. به‌تاریخ ۹ سنبله ۱۴۰۴ هجری شمسی، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در ولایت بغلان، کار ساخت سومین فابریکه سمنت غوری را افتتاح نمود. همچنین، قرارداد پروژه سمنت التمور ولایت لوگر با یک شرکت چینی به امضاء رسید. این شرکت حدود ۱۴۵ میلیون دالر در اکتشاف و استخراج سمنت این منطقه سرمایه‌گذاری خواهد کرد. در تازه‌ترین اقدام در این بخش، محترم ملا







عبدالغنـی بـرادرآخنـد، معـاون اقتصادی ریاسـت‌الوزراء، در ۱۸ سـرطان ۱۴۰۵هجری شسـمی، کار سـاخت دومین فابریکه بزرگ تولید سـمنت جبل‌السـراج را در ولسـوالی جبل‌السراج ولایت پروان افتتاح کرد. معاون اقتصادی ریاسـت‌الوزراء ایـن فابریکه را در عرصه رشـد صنعتی افغانسـتان، استقلال اقتصـادی و تقویـت تولیـدات داخلی، مهم دانست و گفت که تقویت زیربناهای صنعتی نقـش مهمـی درکاهش بیـکاری و افزایش صادرات دارد. دومین فابریکه تولید سمنت جبل‌السراج، روزانه ظرفیت تولید پنج هزارتُن سـمنت را خواهد داشت و برای هزاران نفراز هموطنان کشور نیز فرصت‌های کاری فراهم خواهد کرد.

فابریکه‌هـای قند بغلان و نسـاجی پلخمری نیز پس از روی کارآمدن امارت اسلامی ترمیم و با تجهیزات عصری مجهز شدند. در فابریکه قند ۱۰۰ نفرو درفابریکه نسـاجی حدود ۴۰۰ نفرمشـغول به کار هستند و هردو فابریکه اکنون فعالیـت دارند. در پنجم حمل سـال ۱۴۰۳ هـجری شمسـی، فـاز دوم و سـوم فابریکه ذوب آهن ملت اسـتیل افتتاح شد. درایـن فابریکـه ۲۰۰ نفـرمشـغول بـه کار هسـتند و حـدود ۵۰ میلیـون دالـر در آن سـرمایه‌گذاری شـده اسـت. محتـرم ملا عبدالغنـی بـرادرآخنـد، معـاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به‌تاریخ ۲۸ عقرب سال ۱۴۰۳ فابریکه تولید بخت کمپل را که ۹۳۰ میلیون افغانی در آن سـرمایه‌گذاری شـده اسـت، افتتاح نمود. در این فابریکه برای حدود ۹۰۰ نفرزمینه کار فراهم شده است. به‌تاریخ نهم ثـورسـال ۱۴۰۳ هـجری شمسـی، معاون اقتصادی ریاسـت‌الوزراء در هـرات فابریکه

تولید دوا «ایتوک فارما» را که ۱۰ میلیون دالر در آن سرمایه‌گذاری شده است، افتتاح کرد. این فابریکه ده‌ها قلم دوا تولید می‌کند. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به تاریخ ۳۰ سرطان سال ۱۴۰۴ هجری شمسی، کمپلکس فابریکه‌های تولیدی را در کابل افتتاح نمود. این کمپلکس اکنون برای کمپلکس‌های زراعتی قوش‌تپه، ماشین‌آلات و تجهیزات زراعتی، ماشین‌آلات فابریکه‌های صنعتی و کوچک، وسایط ترانسپورتی، عناصر فلزی، تجهیزات برقی، انواع مختلف پرزه‌جات و قطعات دروازه‌های کانال‌ها و بندهای آب، در مجموع ۱۰۵ نوع محصول تولید می‌کند. به‌تاریخ هشتم اسد سال ۱۴۰۴ هجری شمسی، فابریکه پروسس کشمش در ولسوالی استالف کابل از سوی معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء افتتاح گردید. این فابریکه در ۱۲۸ جریب زمین ساخته شده، ۸ میلیون دالر در آن سرمایه‌گذاری شده و سالانه ظرفیت پروسس ۱۰ هزار تُن کشمش را دارد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به تاریخ چهارم دلو سال ۱۴۰۴ هجری شمسی، سنگ تهداب شرکت تولید قوطی‌های المونیمی «پامیر» را در ولایت هرات گذاشت. این اولین فابریکه تولید قوطی‌های المونیمی در افغانستان است که با سرمایه‌گذاری ۱۲۰ میلیون دالر، در ۱۶ جریب زمین ساخته می‌شود و برای ۱۷۰۰ تن از هموطنان زمینه کار فراهم خواهد کرد. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند فاز دوم فابریکه ذوب آهن «کابل فولاد» را نیز افتتاح نمود. در فاز دوم این فابریکه ۲۰ میلیون دالر سرمایه‌گذاری شده است و ظرفیت پروسس روزانه ۵۰۰ تُن آهن را دارد.

## ارزش اقتصادی صنعت و فعالیت های تولیدی

صنعت در رشد اقتصادی نقش مهمی دارد. از یک‌سو فرصت‌های کاری را افزایش می‌دهد و از طرف دیگر، بدیل اجناس وارداتی می‌شود و میزان واردات کشور را کاهش می‌دهد. بر اساس ارقام، تنها تحت مدیریت وزارت صنعت و تجارت، هر سال برای حدود ۱۵۰ هزار نفر زمینه کار مساعد شده است. یکی دیگر از مزیت‌های فعالیت‌های صنعتی، جذب سرمایه‌گذاری به کشور است. بر پایه ارقام رسمی، میزان سرمایه‌گذاری شرکت‌های نوتأسیس در سال گذشته بیش از ۲.۲ میلیارد افغانی بوده است. با توجه به این ارقام می‌توان گفت که مجموع سرمایه‌گذاری شرکت‌های جدید در پنج سال گذشته به حدود ۱۰ میلیارد افغانی رسیده است. یکی از مزیت های دیگر رشد صنعت این است که اجناس مورد نیاز کشور که تقاضا برای آن‌ها روزبه‌روز افزایش می‌یابد، با قیمت کمتر و در مدت زمان کوتاه‌تر در داخل کشور تأمین می‌شوند. یکی از این ماده اساسی سمنت است که افغانستان به آن نیاز بیشتر دارد و سالانه ۵ تا ۷ میلیون تُن سمنت نیاز دارد. در صنعت، تمام اجناسی که کشور و مردم به آن نیاز دارند تولید می‌شود؛ اما در میان آن‌ها برخی تولیدات نسبت به دیگر از اهمیت و نیاز بیشتری برخوردارند و امارت اسلامی نیز آن‌ها را در اولویت‌های خود قرار داده است.

یکی از این موارد، تولید سمنت است که در بازسازی و احداث زیربناها بیش از هر چیز دیگری به آن ضرورت است. در حال حاضر، بخش اندکی از سمنت مورد نیاز کشور در داخل تولید می‌شود و بخش باقی‌مانده از کشورهای همسایه وارد می‌گردد. افغانستان برای تأمین این نیازمندی خود، هر سال میلیون‌ها دالر به کشورهای همسایه پرداخت می‌کند. بنا براین امارت اسلامی در نظر دارد میزان تولید سمنت را در داخل کشور افزایش داده و سمنت مورد نیاز خود را در داخل تولید کند.

با در نظر گرفتن نیاز کشور به سمنت و ارزش اقتصادی آن، امارت اسلامی تلاش دارد تا افغانستان را در این بخش به خودکفایی برساند. با آغاز تولید سمنت، نیاز کشور به سمنت در داخل تأمین خواهد شد، صنعت گسترش خواهد یافت، از خروج اسعار از کشور جلوگیری می‌شود، پروژه ها به سرعت تطبیق خواهد شد و قیمت سمنت کاهش خواهد یافت. علاوه بر این برای شمار زیادی از هموطنان در این بخش زمینه کار فراهم خواهد شد و وضعیت اقتصادی آنان نیز بهبود خواهد یافت. با ایجاد فابریکه‌های تولید سمنت، از یک طرف میزان بیکاری کاهش می‌یابد و از سوی دیگر، می‌توان نیاز داخلی کشور به سمنت را از طریق همین تولیدات داخلی تأمین کرد. با آغاز تولید سمنت، دیگر نیازی به واردات سمنت از خارج نخواهد بود و در نتیجه، از خروج اسعار از کشور جلوگیری می‌شود. به این ترتیب، می‌توان میلیون‌ها افغانی صرفه‌جویی کرد. با ساخت فابریکه‌های تولید سمنت، سرمایه‌گذاری جذب می‌شود و همچنان عواید دولت نیز افزایش می‌یابد.

در نتیجه این تلاش ها اکنون، پس از گذشت پنج سال، در مجموع ۶۵۰۰ فابریکه در افغانستان فعالیت دارند. این فابریکه‌ها در

بخش‌های مختلف تولیدات دارند. در میان آن‌ها، شماری از فابریکه‌ها نیز دوباره فعال شده‌اند که پیش از فتح از فعالیت بازمانده بودند. به کمک همین فابریکه‌ها، افغانستان اکنون در تولید ۳۰۰ قلم جنس به خودکفایی رسیده و در تولید ۱۰۰ قلم جنس دیگر نیز به ظرفیت نیمه‌خودکفایی دست یافته است.

## نتیجه‌گیری

صنعت، زیربنای اساسی پیشرفت کشورها و شکوفایی اقتصادی به شمار می‌رود. پیشرفت های امروزی بسیاری از کشورهای جهان ثمره و نتیجه رشد صنعتی آنهاست. امروز در سراسر جهان، کشورها برای دستیابی به توسعه اقتصادی، در مقایسه با سایر سکتورها، توجه خاص به صنعت دارند. صنعت نه تنها فرصت‌های کاری ایجاد می‌کند، بلکه از واردات اجناس نیز جلوگیری کرده و زمینه تولید اجناس مورد نیاز را در داخل کشور فراهم می‌سازد. با در نظر داشت همین اهمیت، امارت اسلامی افغانستان این بخش را در اولویت‌های کاری خود قرار داده است. در پنج سال گذشته، نه تنها شماری از فابریکه‌های امارتی و خصوصی که پیش از این از فعالیت بازمانده بودند، دوباره فعال شده‌اند، بلکه با فراهم‌سازی تسهیلات برای سکتور خصوصی، زمینه سرمایه‌گذاری در سکتورهای مختلف نیز فراهم شده است. در این مدت، پارک‌های صنعتی دوباره احیا شده و به همین منظور، زمین‌های جدیدی از سوی رهبری امارت اسلامی در نظر گرفته شده و در اختیار سرمایه‌گذاران قرار گرفته است. علاوه بر این، معافیت‌های مالیاتی، کوتاه‌سازی پروسه‌های طولانی اداری و رسیدگی به‌موقع به مشکلات سرمایه‌گذاران سبب شده است که اکنون شش هزار ۵۰۰ فابریکه در کشور فعالیت داشته باشند. به برکت همین فابریکه‌ها، افغانستان اکنون در تولید حدود ۳۰۰ قلم اجناس به خودکفایی رسیده، در بسیاری از اجناس دیگر به خودکفایی نسبی دست یافته و در صدها بخش دیگر نیز تولیدات دارد. با وجود آن‌که در بخش‌های انرژی، منابع مالی و صادرات هنوز هم چالش‌هایی وجود دارد، اما اگر تطبیق سیاست‌های صنعتی و حمایت از سکتور خصوصی ادامه یابد، افغانستان خواهد توانست سهم تولیدات داخلی را به جای واردات بیش از پیش تقویت کرده و پایه‌ای مستحکم برای توسعه پایدار اقتصادی ایجاد کند.





# په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان
# د ترانسپورټي زېربناوو جوړول او بیارغونه

قیس احمد

په دې لیکنه کې د افغانستان د ترانسپورتي زېربناوو جوړولو او بیارغونې، هوايي ډګرونو، لویو لارو او سړکونو او تیرپارکونو او د اوسپنې شبکې په اړه خبرې شوې دي.



## سریزه

ترانسپورټ او یا هم لېږد رالېږد د یو هېواد د اقتصادي او ټولنیزې ودې لپاره خورا مهم دی. تر بازار پورې د کورنیو تولیدي توکو او کرنیزو محصولاتو انتقال، د کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ پراختیا، د خلکو تګ راتګ، د نویو بازارونو پیدا کول او په ټوله کې د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، سوداګریزو او ترانزیتي اړیکو د رامنځته کېدو، پیاوړي کېدو او پراخېدو لپاره معیاري ترانسپورټي زېربناوې خورا مهمې دي. د یو هېواد د ترانسپورټ سکټور مؤثریت د لویو لارو، سړکونو، ترانسپورټي ترمینلونو، تیرپارکونو، د تخلیې او بارګیرۍ مرکزونو، هوایي ډګرونو، اوسپنې پټلۍ شبکو، سوداګریزو بندرونو او نورو اړوندو تاسیساتو په شتون او ښه فعالیت پورې تړلی دی. افغانستان د خپل جغرافیوي موقعیت له مخې یو له هغو هېوادونو دی، چې سمندر ته مستقیم لاسرسی نه لري. له همدې کبله د سوداګرۍ، ترانزیت او تګ راتګ لپاره له ځمکني او هوایي ترانسپورټ استفاده کوي. په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان اسلامي امارت له لوري د هېواد په مختلفو سیمو کې د ترانسپورټي زېربناوو د جوړولو، بیارغونې او پراختیا په برخه کې لسګونه مهمې پروژې پیل، یوشمېر یې بشپړې او د ډېرو یې بیا د رغونې چارې دوام لري، چې د لویو لارو او سړکونو، اوسپنې پټلۍ شبکو، هوایي ډګرونو، ترانسپورټي ترمینلونو او تیرپارکونو جوړول او بیارغول پکې شامل دي. موږ په دې مقاله کې د تېرو پنځو کلونو پرمهال د اسلامي امارت له لوري د هېواد د ترانسپورټي زېربناوو د جوړولو او بیارغونې په برخه کې ترسره شوو او پیل شوو هڅو ته کتنه کړې ده.

## د افغانستان ترانسپورټي شبکه

افغانستان په کوردننه د لویو لارو او فرعي سړکونو په واسطه نښلول شوی دی او د سړکونو، اوسپنې پټلۍ شبکو او هوایي ډګرونو په واسطه له ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو سره وصل دی. په کوردننه د کابل - هرات سړک، د کابل - جلال اباد سړک، د سالنګونو لویه لار او د هرات - غور سړک له مهمو ترانسپورټي لارو څخه شمېرل کېږي. پر دې سربېره د ولایتونو ترمنځ مهم سړکونه، د ولایتونو د مرکزونو او ولسوالیو ترمنځ فرعي لارې د خلکو او سیمو د نښلولو مهمه برخه جوړوي. د دې ترڅنګ د هوایي ترانسپورټ په برخه کې ۲۷ کورني او پنځه نړیوال هوایي ډګرونه د مسافرو، سوداګریزو توکو د انتقال او نورو فعالیتونو لپاره کارول کېږي. په نړیوالو هوایي ډګرونو کې د کابل، بلخ، هرات، کندهار او خوست ډګرونه شامل دي. د تورغونډۍ، آقینې، حیرتان او هرات - خواف هغه اوسپنیزې کرښې دي، چې افغانستان یې پر مټ له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره تړل شوی دی.

## د ترانسپورټي زېربناوو جوړول او بیارغونه

په تېرو پنځو کلونو کې اسلامي امارت په هېواد کې د ترانسپورټي زېربناوو د جوړولو او بیارغونې په برخه کې مهم ګامونه اوچت کړل. په دې کې د لویو لارو، ولایتي سړکونو، هوایي ډګرونو، اوسپنې پټلۍ شبکو، ترانسپورټي ترمینلونو او تیرپارکونو د جوړولو او بیارغونې پروژې شاملې دي.

## هوایي ډګرونه

د هوایي ترانسپورټ په برخه کې لومړی پام د کابل نړیوال هوایي ډګر بیارغونې ته وشو. د دغه هوایي ډګر د زیانمنو برخو له رغونې







وروسته کورنیو او بهرنیو الوتنو ته د ځمکنیو او هوایي خدماتو د وړاندې کولو تړون د متحده عربي اماراتو له «ګاک» کمپنۍ سره وشو. دغه تړون د افغانستان د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت او ګاک کمپنۍ ترمنځ د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې لاسلیک شو. د دې تړون په لاسلیک کېدو سره د کورنیو او بهرنیو الوتنو لپاره په ذکر شوو برخو کې خدمات بېرته په منظم ډول وړاندې او الوتنې پیل شوې. له کابل وروسته د کندهار، بلخ، هرات او خوست نړیوالو او یوشمېر نورو ولایتونو کې د ملکي او نظامي هوایي ډګرونو د بیارغونې او فعالولو چارې هم پیل شوې. د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال په هېواد کې پنځه نړیوال هوایي ډګرونه (کابل، بلخ، کندهار، هرات او خوست) او ۲۷ کورني هوایي ډګرونه فعال دي. له دې هوایي ډګرونو د مسافرو د تګ راتګ او سوداګریزو توکو د انتقال لپاره ګټه اخیستل کېږي. د اریانا افغان او کام ایر کورنیو هوایي شرکتونو ترڅنګ، یوشمېر بهرني شرکتونه لکه ترکش ایرلاینز، فلای دوبۍ، ایر عربیه، ماهان او نور افغانستان ته الوتنې ترسره کوي. پردې سربېره د افغانستان له هوایي حریم څخه هم په ورځني ډول ګڼې عبوري الوتنې تېرېږي، چې د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت له لوري ورته هوایي خدمات وړاندې کېږي.

## لويې لارې او سړکونه

د افغانستان په ترانسپورټي شبکه کې ډېره استفاده له لویو لارو او سړکونو څخه کېږي. همدې ته په کتو اسلامي امارت په تېرو پنځو کلونو کې لومړی د لویو لارو لکه سالنګونو، کابل - کندهار، هرات - غور او کابل - جلال اباد دویم لین په ګډون د ځینو نورو مهمو لارو د جوړولو او بیارغونې کارونه پیل کړل. له دې جملې اوسمهال د کابل - کندهار لویې لارې د بیارغونې کارونه بشپړ شوي، چې هېوادوالو ته ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوې، سوداګري غوړېدلې او د دې لارې په اوږدو کې ډېر کوچني کاروبارونه هم پیل شوي دي. د نورو لارو کارونه هم په ښه ډول روان دي، چې هر یو یې د پام وړ پرمختګ لري. د دې ترڅنګ د ولایتونو ترمنځ د یوشمېر مهمو نښلوونکو سړکونو د جوړولو او بیارغونې کارونه هم پیل شوي دي. له دې جملې د کندهار-ارزګان، کنړ-نورستان، د قوشتېپې-درزاب، د ګردېز-زرمت، د لوګر-میدان وردګ، د بګرام-جبل‌السراج دویم لین او د قیصار-لامان حلقوي سړکونه د بېلګې په توګه یادولی شو.

## ترانسپورټي ترمینلونه او تیرپارکونه

د ښاري او بین‌الولایتي ترانسپورټ د تنظیم او معیاري کولو په موخه په تېرو پنځو کلونو کې په یوشمېر ولایتونو کې د ترانسپورټي ترمینلونو او تیرپارکونو جوړولو چارې هم پیل شوې. د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت د معلوماتو له مخې، په تېرو پنځو کلونو کې د ښاري او بین‌الولایتي ترانسپورټي سیستم د معیاري کولو په موخه د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ۴۰ ترانسپورټي ترمینلونو او تیرپارکونو د جوړېدو چارې پیل شوې دي.

له دې جملې کابل، کندهار، هرات، بدخشان، بغلان، کندز، بلخ، پروان، سمنګان، فراه، زابل، ارزګان، بامیان، ننګرهار او یوشمېر نور هغه ولایتونه دي، چې پکې په مهمو موقعیتونو او د ترانزیټي لارو اوږدو کې ترمینلونه او تیرپارکونه جوړېږي. په دې سره به د مسافروړونکو او باروړونکو وسایطو تګ‌راتګ په ښه ډول تنظیم شي. له دې جملې د بېلګې په توګه د کابل - ارغندي او هرات - ګذرې ترمینلونو یادونه کولی شو، چې په یو وخت کې د زرګونو مسافروړونکو او باروړونکو موټرونو د ځایېدو او هغوی ته د خدماتو وړاندې کولو ظرفیت لري. په دې ترمینلونو کې ټولې اسانتیاوې لکه پارکېنګونه، رستورانتونه، د استراحت ځایونه، ورکشاپونه، د اور وژنې سیستم، د برېښنا سیستم، مسجدونه، اداري تعمیرونه، شنې ساحې او نور په پام کې نیول شوي دي.

## د اوسپنې پټلۍ شبکې

د ځمکني ترانسپورټ په برخه کې د اوسپنې پټلۍ شبکې هغه کربښې دي، چې افغانستان یې له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره وصل کړی دی. افغانستان اوسمهال د حیرتان، آقینې، تورغونډۍ او هرات - خواف څلور فعالې اوسپنیزې کربښې لري. د ټولګټو وزارت د معلوماتو له مخې، د دغو مسیرونو مجموعي اوږدوالی ۳۹۶ کیلومتره ته رسېږي، چې په ۱۴۰۴ کال کې پرې ۶.۱ میلیون متریک ټنه انتقالات شوي. دغه انتقالات په مستقیم ډول ازبیکستان، ایران او ترکمنستان او په غیر مستقیم ډول بیا چین، روسیې، ترکیې او قزاقستان ته ترسره شوي دي. په کې د افغانستان د وچو او تازه میوو، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو، کرنیزو محصولاتو او یوشمېر نورو توکو صادرات او د نفتي موادو، ساختماني توکو، خوراکي توکو، ماشین‌الاتو او نورو توکو واردات شامل دي. له دې فعالو مسیرونو ورهاخوا د








هرات-کندهار د ۷۳۷.۵ کیلومتره، کندهار-سپین بولدک ۹۶ کیلومتره او هرات-تورغونډۍ ۱۱۳ کیلومتره اوسپنیزو کرښو د تفصیلي سروې او ډیزاین چارې هم پیل شوې، چې دا مهال د شاوخوا ۹۵ سلنه فزیکي پرمختګ سره په ښه ډول روانې دي. د یادونې وړ ده چې د تېرو پنځو کلونو پرمهال افغانستان د فعالو څلورو اوسپنیزو کرښو له لارې څه باندې ۲۴ میلیون متریک ټنه انتقالات شوي.

## پایله

په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان د ټرانسپورټي زېربناوو د جوړولو او بیارغونې په برخه کې مهمې پروژې پیل او یوشمېر یې بشپړې شوې. د لویو لارو او سړکونو، هوایي ډګرونو، اوسپنې پټلۍ، ټرانسپورټي ترمینلونو او تیر پارکونو جوړول او بیارغول د دغو اقداماتو مهمې برخې دي. په هېواد کې د سړکونو شبکې بیارغونې او پراختیا د بېلابېلو سیمو د اوسېدونکو ترمنځ د تګ راتګ او د توکو د انتقال په برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. له دې ورهاخوا د نړیوالو او کورنیو هوایي ډګرونو او د اوسپنې پټلۍ شبکو بیارغونې او منظم فعالیت له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره د افغانستان د سوداګرۍ او ټرانزیټ په برخه کې مهم رول لوبولی دی. د ټرانسپورټي ترمینلونو او تیرپارکونو د چارو بشپړېدل به د ښاري او بین‌الولایتي ټرانسپورټ د معیاري کېدو په برخه کې خورا مؤثر او ګټور تمام شي. په ټوله کې ویلی شو، چې په تېرو پنځو کلونو کې د ټرانسپورټي زېربناوو جوړول او بیارغول د کورنۍ سوداګرۍ او تګ راتګ او بهرنۍ سوداګرۍ او ټرانزیټ په برخه کې خورا مؤثر ثابت شوي او په دې برخه کې د پیل شوو پروژو د چارو په بشپړېدو سره به په راتلونکي کې د هېواد ټرانسپورټي ظرفیت لا زیات او لوړ شي.

# د دولتي شرکتونو د ښه مدیریت نړیوالې تجربې او افغانستان ته یې درسونه

**اکبرخان باتور**
د خوندي سندونو د چاپ امارتي
شرکت مالي او اداري رییس

په دې لیکنه کې د دولتي شرکتونو د مدیریت او شتمنیو اړوند نړیوال وضعیت، د سنگاپور تجربه، د بوتان تجربه او د سریلانکا تجربې په اړه خبرې شوې دي.









## سریزه

دولتي شرکتونه (چې افغانستان کې ورته امارتي شرکتونه ویل کېږي) د هېوادونو د اقتصادي نظام له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کېږي، چې د عامه خدمتونو د وړاندې کولو، د ملي عوایدو د لوړولو، د پانګونې د جذب، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او د اقتصادي پراختیا په برخه کې مهم او نه جلا کېدونکی رول لري. په معاصره نړۍ کې د دغو شرکتونو بریالیتوب تر ډېره د اغېزناک مدیریت، روڼتیا، حساب ورکوونې او د نړیوالو مالي معیارونو په پلي کولو پورې تړلی دی. هغه هېوادونه چې د خپلو دولتي شرکتونو د مدیریت لپاره یې اغېزمنې پالیسۍ او روښانه میکانیزمونه رامنځته کړي، توانېدلي دي چې له خپلو عامه شتمنیو څخه د اقتصادي ودې او دوامدار پرمختګ لپاره اغېزناکه ګټه واخلي. د نړیوالو تجربو مطالعه ښيي چې د دولتي شرکتونو د مدیریت اړوند ستونزې، لکه د مسلکي او په کار پوه کادرونو کمښت، د شرکتي حاکمیت ضعف، د شتمنیو ناسم مدیریت او د سوداګریز لید لوري نشتون، د مناسبو اصلاحاتو او قوي سیاسي ژمنتیا له لارې د حل وړ دي. د سنګاپور، سریلانکا، او بوتان په څېر هېوادونو تجربې د دې څرګند ثبوت وړاندې کوي چې د سم مدیریت، اغېزمنو اصلاحاتو او مسلکي رهبرۍ په مټ، دولتي شرکتونه کولای شي د اقتصادي بدلون او ملي پرمختګ په مهمو بنسټونو بدل شي. افغانستان هم د خپلو امارتي شرکتونو د لا اغېزناک مدیریت او اقتصادي موثریت د لوړولو لپاره د نړیوالو بریالیو تجربو له مطالعې او تطبیق څخه ګټه اخیستلای شي. د اسلام مبارک دین په رڼا کې د مالي او اداري اصلاحاتو پیاوړتیا، د نړیوالو مالي معیارونو پلي کول، د مسلکي کارکوونکو روزنه او له مناسبو اقتصادي ماډلونو څخه ګټه اخیستنه هغه عوامل دي چې کولای شي د امارتي شرکتونو فعالیتونه ګټور او د هېواد د اقتصادي ودې لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي. په همدې موخه، دا مقاله د دولتي شرکتونو د ښه مدیریت نړیوالې تجربې څېړي او د افغانستان لپاره هغه مهم درسونه او سپارښتنې وړاندې کوي چې د یادو شرکتونو د اغېزمنتیا، روڼتیا او اقتصادي موثریت په لوړولو کې رغنده رول لوبولای شي.



## د دولتي شرکتونو د مدیریت او شتمنیو اړوند نړیوال وضعیت

دولتي شرکتونه په نړیواله کچه په بېلابېلو اقتصادي او خدماتي سکتورونو کې فعالیتونه ترسره کوي. دغه شرکتونه د برېښنا، نفت او ګاز، ترانسپورټ، مخابراتو، مالي خدماتو، استوګنیزو (رهایشي) پروژو او ګڼو نورو برخو کې مهم رول لري او د هېوادونو د اقتصادي ودې او پراختیا لـه اساسي محرکاتو څخه ګڼل کېږي. د نړیوال وجهي صندوق د ۲۰۲۰ میلادي کال د مطالعې له مخې، د ۲۰۱۸ میلادي کال تر پایه د دولتي شرکتونو د شتمنیو ټولیز ارزښت شاوخوا ۴۵ ټریلیونه امریکایي ډالرو ته رسېده، چې د نړۍ د ناخالص کورني تولید نږدې ۵۰ سلنه جوړوي. دغه ارقام ښیي چې دولتي شرکتونه نه یوازې د عامه خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې مهم رول لري، بلکې د عامه شتمنیو د اغېزناک مدیریت، د پانګونې د جذب، د کارموندنې د فرصتونو د رامنځته کولو او د ملي اقتصاد د پیاوړتیا په برخه کې هم د پام وړ ونډه لري. له همدې امله، د دولتي شرکتونو د شتمنیو اغېزناک او سوداګریز مدیریت، د روڼتیا او حساب ورکوونې اصولو ته ژمنتیا، او د نړیوالو مالي معیارونو پلي کول، د هېوادونو لپاره د اقتصادي ودې او دوامدار پرمختګ د تضمین له مهمو عواملو څخه شمېرل کېږي. کله چې د عامه شتمنیو په اړه بحث کېږي، نو دا موضوع په ډېرو هېوادونو کې لا هم په بشپړه توګه روښانه او معلومه نه ده. د دې وضعیت یو مهم لامل د مالي محاسبې د سیستمونو کمزورتیا، د معلوماتو نشتوالی او یا هم د ادارو ترمنځ د جوړښتي توپیرونو شتون دی. په پایله کې، د عامه شتمنیو د ثبت، ارزونې او مدیریت لپاره لازم او کره معلومات په کافي اندازه موجود نه وي. د دې ستونزې یو مهم لامل د مسلکي محاسبینو کمښت دی. د سویډن د صنعت پخواني وزیر ډاګ ډیټر له قوله، د نړۍ په کچه یوازې شاوخوا اته سلنه (۸٪) مسلکي محاسبین په دولتي ادارو او دولتي شرکتونو کې دندې ترسره کوي. دا کمه سلنه د دې سبب ګرځي چې عامه شتمنۍ په سمه توګه ثبت، ارزول او مدیریت نه شي. له همدې امله، په ډېرو مواردو کې دغه شتمنۍ یا خو ناسمې کارول کېږي او یا هم د اقتصادي ودې او عایداتو د زیاتوالي لپاره ترې اغېزناکه ګټه نه اخیستل کېږي. سره له دې، ځینو هېوادونو د عامه شتمنیو د مدیریت او محاسبې په برخه کې ځانګړې پاملرنه کړې ده. د بېلګې په توګه، نیوزیلنډ د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی چې په دې برخه کې یې د پام وړ پرمختګ کړی دی. دغه هېواد د مالي محاسبې، شتمنیو د ثبت او ارزونې او د عامه شتمنیو د اغېزناک مدیریت له لارې توانېدلی چې خپلې عامه شتمنۍ په منظم، شفاف او سوداګریز ډول مدیریت کړي او د اقتصادي پراختیا لپاره ترې اعظمي ګټه ترلاسه کړي. د دولتي شرکتونو د شتمنیو د اغېزناک او سوداګریز مدیریت لپاره، ډاګ ډیټر پر دې ټینګار کوي چې د مسلکي محاسبینو او مالي متخصصینو استخدام، د کره او باوري معلوماتو راټولول او مدیریت او د نړیوالو مالي راپورورکولو معیارونو پلي کول بنسټیز اهمیت لري. IFRS د مالي معلوماتو د ثبت، وړاندې کولو او راپورورکولو لپاره یوه ګډه او نړیواله محاسبوي ژبه بلل کېږي. همدارنګه، د هېواد په کچه د عامه شتمنیو د ثبت، ارزونې او مدیریت لپاره د یوه یا څو ځانګړو او مسلکي بنسټونو رامنځته کول، د وړ او مسلکي کادرونو ګومارنه او د روڼتیا او حساب ورکوونې پر بنسټ د اغېزناکو مدیریتي میکانیزمونو پلي کول، کولی شي د عامه شتمنیو د اغېزناک، مولد او سوداګریز مدیریت زمینه برابره کړي. د دغو اقداماتو په عملي کېدو سره به نه یوازې د دولتي شرکتونو اقتصادي موثریت لوړ شي، بلکې د عامه شتمنیو د اغېزناکې کارونې له لارې به د هېواد د اقتصادي ودې، عوایدو د زیاتوالي او دوامدار پرمختګ لپاره هم نوي فرصتونه رامنځته شي.



## د سنګاپور تجربه

په دولتي شرکتونو کې د عامه شتمنیو سوداګریزه ګټه اخیستنه د اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو او د هېوادونو د اقتصادي ودې له مهمو عواملو څخه شمېرل کېږي. په ځانګړې توګه، د عملیاتي برخو شتمنۍ لکه سړکونه، هوايي ډګرونه، د اورګاډي پټلۍ، برېښنا، اوبه، مالي خدمات او ورته نورې زیربناوې، همدارنګه ودانۍ او ځمکې، د سوداګریز مدیریت له لارې د پام وړ اقتصادي ارزښت رامنځته کولای شي. په دې برخه کې د سنګاپور تجربه د یادونې وړ ده. دوی د کولمبو ښار اروند ټولې دولتي ځمکې او ودانۍ په سوداګریزو شتمنیو بدلې کړې دغه هېواد د «عامه شتمنیو مدیریت باید له سیاست څخه جلا وي» تر شعار لاندې وتوانېد چې د خپلو دولتي شرکتونو د شتمنیو د اغېزناک او سوداګریز مدیریت په پایله کې د پام وړ اقتصادي پرمختګ ترلاسه کړي. سنګاپور په لنډه موده کې د پرمختګ په حال کې هېوادونو له ډلې څخه د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېد او په یوه لسیزه کې یې خپل ناخالص کورني تولید د پام وړ لوړ کړ. د دغه ستر اقتصادي بدلون له اصلي طراحانو څخه یو هم ګو کینګ سوی و، چې د سنګاپور د مالیې وزیر او د لومړي وزیر د مرستیال په توګه یې دنده ترسره کړې ده. د هغه اقتصادي لیدلوري او اصلاحاتي تګلارو د سنګاپور د اقتصادي بدلون او د عامه شتمنیو د اغېزمن مدیریت په بریالیتوب کې مهم رول لوبولی دی.



## د بوتان تجربه

بوتان، چې یو اسیایي هېواد دی، د دولتي شرکتونو د مدیریت او اغېزناک انکشاف په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ و. په دغه هېواد کې د دولت د ونډې پر بنسټ درې ډوله دولتي شرکتونه شتون لري: لومړی، هغه شرکتونه چې سل سلنه (۱۰۰٪) دولتي ونډه لري؛ دویم، هغه چې د دولت ونډه پکې له پنځوس سلنې (۵۰٪) زیاته وي؛ او درېیم، هغه چې د دولت ونډه پکې له پنځوس سلنې (۵۰٪) کمه وي.

بوتان له دوو اساسي ستونزو سره مخ و. لومړی دا چې په شرکتونو کې ژمن او صادق کسان موجود وو، خو د شرکتونو د مدیریت او حاکمیت اړوند یې کافي علمي او مسلکي پوهه نه لرله. دویمې ستونزې هم کارکوونکو سره تړاو درلود؛ اړوند مسوولینو بیروکراتیک دولتي ذهنیت



درلود، حال دا چې اړتیا وه ترڅو سوداګریز ذهنیت خپل کړي. بوتان د اسیایي پراختیایي بانک د متخصصینو په همکارۍ وتوانېد چې د خپلو دولتي شرکتونو اساسي ستونزې په سمه توګه تشخیص او د هغوی لپاره اغېزناکې حللارې رامنځته کړي. په دې اصلاحاتو کې د مالکیت او مدیریت د دندو تفکیک، د مدیره پلاوو مسلکي کول، د مالي فعالیتونو ښه کول او د شرکتونو د فعالیتونو منظم ارزول شامل وو. د دغو متخصصینو له ډلې څخه اني، چې د اسیایي پراختیایي بانک مشاوره ده، ویلي چې له اصلاحاتو وړاندې د دغو شرکتونو کلنۍ ونډه د دولت په بودیجه کې شاوخوا ۳۴۲ میلیونه امریکایي ډالره وه؛ خو د اصلاحاتو له پلي کېدو وروسته دغه ونډه ۳.۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته لوړه شوه. دا بدلون ښيي چې د مسلکي مدیریت، اغېزناکو اصلاحاتو او د دولتي شرکتونو د شتمنیو د سمې ادارې له لارې د عامه شتمنیو اقتصادي ارزښت او د دولت عواید د پام وړ لوړېدلی شي. هغې زیاته کړه چې د دغو اصلاحاتو تر ټولو مهم راز د دولت ژمنتیا وه. سربېره پر دې، د بشري ظرفیتونو لوړول، د پالیسیو او طرزالعملونو جوړول او د یادو شرکتونو لپاره د شرکتي حاکمیت په برخه کې د پوهې او تجربې لرونکو مسلکي بورډ غړو او اجرائیوي مسوولینو ګومارل، د دغو بریالیو اصلاحاتو مهم عوامل وو. د سنګاپوراو بوتان له بریالیو تجربو وروسته، ځینې هېوادونه د اقتصادي بحرانونو له امله د خپلو دولتي شرکتونو په مدیریت کې پراخو اصلاحاتو ته اړ شوي دي چې سریلانکا یې ښه بېلګه ده.

## د سریلانکا تجربه

سریلانکا په ۲۰۲۲ میلادي کال کې له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ شوه، تر دې چې د دیوالیه هېواد په توګه اعلان شوه. د دغه هېواد د دولتي شرکتونو عمده ستونزې د دولت له لوري د مالي ملاتړ ناپایښت، د اغېزناک مدیریت نشتون، د مسلکي او وړ اشخاصو نه ګومارنه، په ځانګړې توګه د بورډ غړو او اجرائیوي مسوولینو د ټاکنې ستونزې، د شرکتونو د تشکیلاتو پرسوب او د دولتي شرکتونو له شتمنیو څخه ناوړه ګټه اخیستنه او مالي فساد وو. د یادو ستونزو د حل په موخه، سریلانکا اسیایي پراختیایي بانک په مرسته د اصلاحاتو یو هراړخیز پروګرام پیل کړ. د خپلو دولتي شرکتونو لپاره یې ځانګړې پالیسي او قانوني چوکاټ جوړ کړ.

همدارنګه، د شاوخوا ۱۵۰ دولتي شرکتونو له ډلې څخه ۲۰ تر ۲۵ هغو شرکتونو ته، چې عامه خدمات یې وړاندې کول، د دولت تر بشپړې (۱۰۰ سلنې) ونډې لاندې د فعالیت اجازه ورکړل شوه، او پاتې نور هغه شرکتونه چې د فعالیت ماهیت یې له عامه خدماتو څخه توپیر درلود، د عامه او خصوصي مشارکت ماډل ته وسپارل شول. سربېره پر دې، د عامه شتمنیو، چې تولیز ارزښت یې نږدې ۲۴۰ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېږي، د اغېزناک مدیریت او سوداګریزې ګټې اخیستنې لپاره لازم میکانیزمونه رامنځته او پلي شول. د دغو اصلاحاتو په پایله کې، سریلانکا وتوانېده چې د خپلو دولتي شرکتونو د مدیریت او فعالیت اړوند ګڼې ستونزې تر ډېره بریده حل او د اقتصادي ثبات پر لور مهم ګامونه واخلي.



## پایله

د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو تجربې ښيي چې دولتي شرکتونه له ګڼو مالي، اداري، تجارتي او عملياتي ستونزو سره مخ وو، خو د اغېزناکو اصلاحاتو، ښې حکومتولۍ او مسلکي مديريت له لارې وتوانېدل چې دغه ستونزې تر ډېره حل کړي او د خپلو شرکتونو اقتصادي موثريت لوړ کړي. د نيوزيلنډ، سنګاپور، سريلانکا او بوتان تجربې ښکاره کوي چې د شتمنيو منظم مديريت، روښتيا، حساب ورکوونه او د سوداګريز ليدلوري پر بنسټ اداره کول د دولتي شرکتونو د برياليتوب اساسي عوامل دي. په افغانستان کې هم د امارتي شرکتونو اوسنی وضعيت د پرمختګ او مثبت بدلون پر لور روان دی. دغه شرکتونه د هېواد په اقتصادي وده، د عامه خدمتونو په وړاندې کولو او د ملي عوايدو په زياتوالي کې مهم رول لري. خو د دې لپاره چې د دوی اغېزمنتيا او پايښت لا زيات شي، اړينه ده چې د مالي مديريت، سوداګريزو او عملياتي فعاليتونو په برخه کې اصلاحات په دوامداره او منظم ډول تعقيب شي.

## وړانديزونه

۱. په امارتي شرکتونو کې وړ، مسلکي او تجربه لرونکو محاسبينو او مالي متخصصينو ګومارنې ته لا ډېره پاملرنه وشي.

۲. د شرکتونو د لا اغېزناکې رهبرۍ لپاره دې د سوداګريز فکر لرونکو مديرانو او مسلکي بورډونو اجرائيه کمېټې جوړې شي.

۳. د امارتي شرکتونو د شتمنيو د ثبت، ارزونې او مديريت په برخه کې يو معياري او اغېزناک ميکانيزم رامنځته شي.

۴. د نړيوالو مالي راپور ورکولو معيارونو پلي کول، د شتمنيو د لا ښه مديريت په برخه کې ګټور تماميداى شي.

۵. په هغو امارتي شرکتونو کې، چې د عامه خدمتونو د وړاندې کولو موثريت يې نسبتاً ټيټ وي، د خصوصي پانګونې له ماډل څخه ګټه اخيستل کېدای شي، څو د خصوصي سکټور له پانګونې، تجربې او مديريتي وړتياوو څخه په استفادې سره د خدماتو کيفيت ښه، لګښتونه کم او اقتصادي موثريت لوړ شي.



remarks were not limited to investment and production; he also spoke about the country's political stability, national unity, and the creation of a suitable environment for economic activities.

The Deputy PM said: "Afghans are one nation; they share one another's pain, sorrow, and happiness. On the one hand, the Islamic Emirate of Afghanistan has been able to maintain the current peaceful situation throughout the country's entire geography, while on the other hand, our people no longer allow disruptive groups to operate on their soil."

The second day of the visit went beyond Herat's industrial and production environment and was dedicated to important issues concerning regional connectivity, energy, and trade.

During his visit to Herat Province, on the morning of Monday, August 10, 2026, the Deputy PM travelled to Torghundi, where he held discussions with Gurbanguly Berdimuhamedov, the National Leader of Turkmenistan, on developments in the TAPI project in Afghanistan and future economic activities between the two countries.

Several important issues concerning economic relations between Afghanistan and Turkmenistan were discussed in Torghundi. From energy and gas to trade, transit, and railways, the two sides held detailed discussions on these important matters.

The Deputy PM welcomed Gurbanguly Berdimuhamedov and expressed his satisfaction that work on the TAPI project in Herat Province was progressing well. He called on the Turkmen side to reach an agreement on the price of gas between the two countries and to adjust the pricing formula in a way that would prevent the impact of severe fluctuations in European markets on gas prices. He also emphasized concluding a long-term contract, easing the conditions, and incorporating a flexible contract-review mechanism into the agreement.

The Deputy PM stressed the need to complete the remaining works of the TAPI project according to the plan and requested the Turkmen side's cooperation in establishing a gas distribution and consumption network in Herat Province, as well as providing employment opportunities for more Afghans in the project. In his view, TAPI has further strengthened the strategic partnership between Afghanistan and Turkmenistan, and it is necessary for both sides to work jointly to increase trade by reopening the Akryem port for oil transit, providing facilities for Afghan transit goods at the Turkmenbashi port, resolving existing challenges to the reactivation of the Lapis Lazuli Route, and rehabilitating and expanding the Herat–Torghundi railway network.

At the meeting, the National Leader of Turkmenistan expressed his satisfaction with the expansion of relations between Afghanistan and Turkmenistan on the basis of goodwill and good-neighborly relations. He also assured the Afghan side of his country's cooperation in establishing a gas distribution network, launching the TAPI project, and providing transit and trade facilities for Afghanistan at the Turkmenbashi port. He said that the Lapis Lazuli Route, as well as the Northern Corridor, should also be activated to expand trade between the two countries. The Turkmen leader called for joint efforts in this regard.

Gurbanguly Berdimuhamedov assured the Afghan side that the work on the projects initiated in Afghanistan in the fields of electricity and railways would be completed within the specified timelines and with due speed.

At noon on the same day, in the presence of Deputy PM Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund and the National Leader of Turkmenistan, Gurbanguly Berdimuhamedov, a memorandum of understanding on the purchase of gas for the TAPI project was signed in Torghundi between the state-owned Afghan Gas Corporation and Turkmenistan's Türkmengaz Company. Under this memorandum of understanding, the price of gas, the level of gas demand, and the process for gas distribution will be determined.

Thus, the two-day visit to Herat extended from the inauguration of a laboratory and the groundbreaking of an industrial factory to discussions on the TAPI project and the broad economic relations between Afghanistan and Turkmenistan. These issues present a common picture of production, investment, energy, trade, and regional connectivity.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund and his accompanying delegation, which included several esteemed members of the Cabinet, officials of government institutions, and representatives of the private sector, returned to Kabul on Monday evening, August 10, 2026.

The important milestones of the two-day visit to Herat remain there, while the issues discussed during the visit are considered important for future activities in the fields of production, investment, energy, trade, and regional connectivity.



# TWO-DAY VISIT
## OF MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND
# TO HERAT:
## FROM ECONOMIC PROJECTS TO REGIONAL CONNECTIVITY

The two-day visit of Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy PM for Economic Affairs, to Herat was focused on several major projects related to the economic growth, investment, regional connectivity, and energy sectors of the province and Afghanistan as a whole.

The Deputy PM arrived in Herat city on the morning of Sunday, August 9, 2026. At the beginning of the first day of his visit, he went to the Herat Industrial Park, where he inaugurated and put into operation a laboratory for food products, medicines, and health products at the southwestern zone level. The Deputy PM for Administrative Affairs, Mawlavi Abdul Salam Hanafi, several esteemed members of the Islamic Emirate's Cabinet, officials of government institutions, and representatives of the private sector also attended the ceremony.

The laboratory's inauguration ceremony was not merely about opening a new facility; rather, participants also discussed the standards considered necessary for ensuring the quality of domestic products and imported goods.

In his remarks, Deputy PM Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund said that Afghanistan had taken its initial steps toward economic growth and that it was necessary to provide products and services in accordance with national and international standards.

The Deputy PM strongly urged all traders not to import low-quality goods into the country, saying: "As I have emphasized before, I strongly urge you not to bring low-quality, non-standard products that are harmful to people's health into the country for personal profit. If anyone imports such products, they will undoubtedly be rejected."

Following the Industrial Park, the visit continued toward Zindajan District of Herat. There, a groundbreaking ceremony was held for another major investment project.

At noon on the same day, Deputy PM Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund travelled to Zindajan District of Herat Province, where he laid the foundation stone for the Gulbahar Cement Factory, backed by a private investment of $143 million. The foundation stone laying ceremony for the cement factory was one of the major programs of the visit, as the commencement of the factory's operations will increase domestic cement production and reduce the country's need for imported cement.

The Deputy PM described the construction of the factory as an important step toward self-sufficiency in cement production. He said that it would reduce dependence on imported cement, create employment opportunities for citizens, and contribute to the expansion of construction activities.

He further stated that Afghanistan is a country rich in natural resources and that the Islamic Emirate is seeking to utilize the available opportunities to rebuild the country's economic infrastructure. He added: "We view the political and economic geography of our country as an economic and commercial gateway; we have transformed our geographical borders into centers of trade relations and interaction; we have reduced the level of border-related risks to zero; we have never attempted to link trade with political issues; and we have always sought to maintain regional and international relations through appropriate economic diplomacy."

During the ceremony, Deputy PM Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund's

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Office of the Deputy PM for Economic Affairs |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**